جابر

علمي اجتماعي او ادبي

لړم (۱۳۴۳) لمرنی کال د (۱۹۶۴) عیسوی کال اکتوبر او نومبر

شمیر	مضمون	لیکوال	مخ
۱ـ	پښتانه ادبیان او نورالدین جامي (رح)	پوهاند رشتین	۱
۲ـ	د پښتونستان مسئله او ...	دښاغلي بختاني ترجمه	۸
۳ـ	د لیکوال وظیفه	ممنون	۱۹
۴ـ	د پښتو شعر او دب خوږي ...	واسعي	۲۴
۵ـ	زما په زړه کښې ...	دښاغلي سیفي ترجمه	۳۱
۶ـ	د بدري جمالي او سیف الملوك کیسه	دولت محمد لودین	۴۵
۷ـ	د افغانستان د ملي ژبې ..	دښاغلي معتمد ترجمه	۵۲
۸ـ	د زړه راز شعر	عبد العزیز (عازم)	۶۸
۹ـ	د زړه کوډۍ شعر	(رازقي) نرنګي	۷۰
۱۰ـ	د پښتو د زیات پر مختګ ...	اداره	۷۱
۱۱ـ	په پښتو ټولنه کښې	اداره	۷۳
۱۲ـ	دغه پیغام ...	رشتین	۷۴

امتیاز: د پښتو ټولنې

مشر: پوهاند رشتین

مسئول مدیر: محمد مومن پټوال

پښتانه ادیبان او نورالدین جامی «رح»

دا خبره جوته ده چه زیاتې اسلامي پوهنې مذهبي او تصوفي فکرونه داسلامي دین او عربي ادب له لارې لومړي پارسي ژبې ته اوبیا پښتوته رانوتي دي . دغه اغیز په طبیعي ډول ډومبي په پارسي ادب کښې ځان څرګند کړ اوبیایې په پښتو ادب کښې ځای وموند .

پښتون اولس چه له کوم وخت نه داسلام مبارک دین ته غاړه کښېښوده بیایې په پوره قوت سره داسلامي افکارو د خپرولو دپاره زیار ویستلی دی اوډیر دیني اومذهبي کتابونه یې له عربي او پارسي ژبو څخه په پښتو راړولي دي . ولي چه پارسي ژبه هم دګاونډې په لحاظ ورته نزدې اوهم ورته آسانه وه . نوځکه یې دپارسي د نومیالو پوهانو اومشرانو زیات کتابونه په پښتو ژبه ترجمه کړي دي اوپه دې وسیله یې دنزدیوالي اوګاونډیتوب پوره حق په ځای کړی دی .

لکه چه ښکاره ده په دې سلسله کښې عبدالقادر خټک له ټولو نه زیاته برخه اخیستې ده، ده دشیخ سعدي (رح) ګلستان په ډیره خوږه پښتو په داسي ډول ترجمه کړی دی چه نثر یې په نثر اونظم یې په نظم اړولی دی او (ګلدسته) یې بللی ده .

دغه شان امیرمحمد انصاري هم په ۱۲۳۷ ق کال کښې د سعدي ګلستان پښتو کړی دی .

یوې پښتنې شاعرې زرغونې کاکړې په (۹۰۳ هـ) کښې دشیخ سعدي بوستان په پښتو نظم ترجمه کړی دی او د پښتو او پارسي ادب دنزدیوالي تاداویې ایښې دی .

دغسی مثالونه نور هم ډیردی چه د ټولو راوړنه له یوې خوا د ادبیاتو د تاریخ کار دی اوله بلې خوا مونږ له خپل مقصد څخه لیری باسی .

زمونږ مقصد په دې ځای کښې دادی چه دعبدالرحمن جامی دیادونې په دې لویه کالیزه کښې له ده سره د پښتو ادبیاتو مینه او علاقه وښیو او په دې خبره باندې یوڅه رڼا واچوو . دشعر او ادب له دنیا څخه پرته هم عبدالرحمن جامی د یو اسلامی پوهاند ستر صوفی او لوی نحوی عالم په توګه په ټوله پښتونخوا کښې د زیات نوم او شهرت خاوند دی . دده مشهور کتاب شرح ملا جامی اوس هم په ټولو دینی او مذهبی مدرسو کښې دیو مهم درسی کتاب په توګه وبل کیږی .

دې کتاب دومره شهرت موندلی دی چه که چیری څوک په عربی نحو کښې دغه کتاب ونه لولی نو د دغه علم عالم ورته نه شی ویل کیدای .

لکه چه معلومه ده دجامی (رح) دغه کتاب دیو عربی متن (کافیی) شرح ده .

په دغه شرح باندې ډیرو پښتنو عالمانو نوری شرح لیکلی دی او بی شمیره حاشیې ور باندی جوړې شوې دې.

دشرح ملا جامی په مشهورو حاشیو کښې یوه د ننګرهار د ملا فهیم ګل شرح ده چه د (باسولی) په نامه یادیږی . بله شرح یې په کابل کښې لیکل شوی ده او د کابلی په نامه یادیږی .

په پښتنو عالمانو کښې دجامی صاحب تصوفی اثر نفحات الانس هم پوره شهرت لری او همیشه دیو لوی مأخذ په توګه ورڅخنی کار اخیستل شوی دی .

په ادبي کتابونو کښې دده یوسف زلیخا دوهره نوم ویستلی دی چه په ټوله پښتونخوا کښې دیو درسي کتاب په توګه ویل کیږي اوچه څوك دغه کتابونه لولي نو دپارسي دپوهیدونکو په ډله کښې نه شي راتلای .

هر پښتون زده کوونکي دپنج کتاب ـ ګلستان او بوستان نه وروسته دخپلي خولي غوټي په دې بیت سپړي :

الهي غنچهٔ امید بکشای گلي از روضهٔ جاوید بنمای

پښتانه ناظمان اواستادان چه په کوم خوند اومزه دجامي صاحب یوسف زلیخا خپلو شاګردانو ته وایي ؛ هغه خوند لاتر اوسه په بل کتاب کښې نه دی پیدا شوی اودغه له حضرت نورالدین جامي سره دپښتنو ادیبانو اوپوهانو د عقیدې او اخلاص دڅرګندون یولوی ثبوت دی .

اوس غواړو چه ددغه مقصد دپوره څرګندتیا دپاره یوڅو عملي مثالونه راوړو .

تر ټولو غوره مثال دعبدالقادر ختك یوسف زلیخا ده چه په (۱۱۱۳ هـ) کال یې دجامي له یوسف زلیخا نه په پښتو نظم ترجمه کړې ده .

دعبدالقادر ختك له سریزې څخه ښکاریږي چه یوسف زلیخا اول په عربي ژبه لیکل شوی وه بیا له عربي نه پارسي شوې ده او ده له پارسي نه په خفیف بحر پښتو کړې ده . لکه چه وایي :

دا قصه اول تازي وه په تازي یې اغازي وه
په پارسي کړه پارسیانو نظم نثر سخنداني
ماهم بیله تري حصه کړه په پښتو مي دا قصه کړه

هر پښتون چه پرې ناظر شي — په لوستو يې خوښ خاطر ښي
ما ښه کار دی پکښې کړی — ښه مضمون مې دی راوړی
په خفيف بحر و يلی — کل د قت ځنی و تلی
ما شيرين بحر خفيف کړ — بی ځوابه مې حريف کړ

عبدالقادر خټک د کتاب په پای کښې د جامی صاحب پيروی ته په مخلصانه ډول داسی اشاره کوی :

شکر شکر کتاب تم شو — بار له زړه د فکر کم شو
سر مې هسک شو له زنګونه — خلاص شوم زه له ځيګر خونه
پيروی مې د جامی کړه — ما پخته خپله خامی کړه

عبدالقادر د يوسف زليخا ترجمه په ډير قوت سره کړی ده او د پښتو محاورو او لغاتو پوره خيال يې پکښې ساتلی دی. د عبدالقادر خټک د شعرونو له کتنی څخه جو تيږی چه دی د روان او خوږ شعر څښتن دی . د يوسف زليخا په ترجمه کښې دغه بيت د روانی او خوږلنی يو ښه مثال دی .

د هر څيز پټول و شی — عشق او مشک پټول نه شی

د يوسف زليخا ترجمی ته چه سړی ښه ځير شی نو د ترجمی ګومان پرې نه کيږی بلکی د يو ګوښی اثر خيال ور باندی کيږی .

د مثال په توګه له دې لاندی نمونو څخه دغه مطلب ښه څرګنديږی :

د زليخا ستاينه :

قد يی سم لکه د سرو — په رفتار لکه تدرو
چه ويښته د دې د سرو — به تر مشکو تر عنبر وو
صاف بې هسی رنګ جبين ؤ — چه هر راز پکښې مبين ؤ
له ويښتو يې ساده تن ؤ — لکه ګل د دې بدن ؤ
سر تر پايه خزانه وه — هسی ښکلی جانانه وه

دیوسف ستاینه:

ترکیب شوی درست له نور ؤ په صورت ښکلی تر حور ؤ
اهو چشمه ګل ر خسار ؤ په دوه شونډو شکر بار ؤ
تو ییدې ترې مرغلـرې چه به ده کړ لې خبـرې

دیوسف وزلیخا قلمی نسخی دلندن او هند په موزیمونو او نورو ځایونو کښی ډیرې پیدا کیږی. دکابل په موزیم کښی هم یوه څیره واله قلمی نسخه شتـه دی. چـه په ۱۲۲۰ هـ کال دکشمیـر دوالـی امین الله خان مومند په وخت کښی دملاولی محمد په قلم لیکل شوې ده.

دپښتو ټولنی په کتاب خانه کښی یی یوه چاپی نسخه مـو جوده ده چه دامیر عبدالرحمن په زمانه کښی (۱۳۱۵ق) دده په امر دکابل په سلطنتی چاپخانه کښی دسردار محمدخان محمدزی په خطاو اهتمام دڅیرو سره چاپ شوی ده. ددغی چاپی نسخی مخونه (۴۶۰) ته رسیږی لکه چه ښکاره ده په پښتو کښی یوه بله یوسف زلخا هم شته خو هغه ترجمه نه ښکـاری بلکی احمد نومی لیکوال دپښتو په نیمه منظوم ډول لیکلی ده او یوه قـلمی نسخه یې دهند درامپـور په (رضا) نومی کتاب خانه کښی شته.

عبدالحمید مومند چه دپښتو ژبی یو خوږژبی ناز کخیال شاعر دی (۱۱۳۷هـ) حضرت جامی دپارسی دمشهورو شاعرانو په ډله کښی راوړی او پښتنو شاعرانو ته دپیغور یوه متروکه ورکوی چه په تاسی کښی ولی دغسی شاعران نه پیدا کیږی چه دسعدی او نظامی سره برابری وکړی او یاد جامی او فردوسی سره هم جام شی لکه چه دشاه ګدادقصی په سریزه کښی وایی:

یو حریف پکښې پیدا دمیدان نه شو
یو ظریف پکښې پیدا سخندان نه شو
چه هم چشمه د سعدی د نظامی شی
یا هم جام دفردوسی ودجامی شی

له دې نه معلومه شوه چه حمید بابا جامی رح دفردوسی، نظامی او سعدی په کتار کښې دروی او په شعر او ادب کښې یې دهغوی هم څنګ بولی. او په دې ډول یې دپارسی شاعرۍ دمیدان یو لوی پهلوان ګڼی.

علیخان خټک (۱۱۸۰) هم حضرت جامی رح ته په ډیر دروند نظر ګوری او دیو خوږ ژبی توتی، سیلانی بلبل او دجنت دباغ قمری ورته وایی لکه دا:

د جنت د باغ قمری دی — که شیرین زبان توتی دی
یا بلبل سیلانی دی — که جامی دی ډیر شیدا دا

ورپسی ځان دحضرت محمد او جامی صاحب تابع بولی لکه چه وایی:

زه پس رو محمدی یم — هم تابع دصاف نامی یم
په دا دواړو پسی ماده — ځکه کړې اقتدا دا

له دې بیتو څخه څرګندیږی چه علیخان جامی صاحب ته دیو روحانی مشر او لوی صوفی په سترګه ګوری او په معنوی لحاظ ځان دده تابع ګڼی او دده په پل باندی دتللو هڅه کوی.

علیخان دجامی صاحب یو څه شعرونه هم په ډیر خوندور ډول ترجمه کړی دی چه ځینی بیتونه یې دخوند او مزې دپاره دلته راوړل کیږی:

اننګی دی که سپوږمۍ ده — که سور ګل دی دلالا دا
یا د زړونو آئینه ده — یا خونمردی په رښتیا دا
دا اوسی دی که ساحر دی — که صیاد دی زړونه وړی

یا دی ستر ګی فتنه ګرې یاخودی نرګس شهلا دا
یا زنجیر دی که ستا زلفی که نافې که غوږ ندی (۱) دی
سنبل تر دی که امبر دی که ښا مار دی اژ دها دا
یا داخو له یا سرچشمه ده دحیات که ښکلی میم دی
یا د بلی دی یا د قو تو یا تو تی دی شکرخا دا
دادی ستوری په اسمان کښی یا کلی په ګلستان کښی
یادی غاښ دی په دهان کښی یا دی در قیمت بها دا
دا د چین نقش خأ نه ده یا د ترکو استا نه دا
د هما یو اشیا نه ده که دی کور دمحبو بادا
دادی زنه ده که سیب دی که کوهی ډک له فریب دی
دښایست دبازار زیب دی که میو ه ده دشفا دا
دادی خط دی که هاله دی که سبزه ترګل چاپیر شوه
شنه فولاد دی جوهر داره که شهپر دی د (عنقا دا)
علیخان چه په پښتو کړه دجامی صاحب بیتو نه
ګویا ښکلی جامی وښکی نوی اغو ندی زیبا دا

په دغه راز پښتنو شاعرانو له حضرت جامی رح سره خپل معنوی روحانی او مسلکی ارتباط ساتلی دی او دده صوفیانه او شاعرانه مقام ته یې داحترام او عقیدی دګلو نو غونچې وړاندې کړی دی .

رښتیا خبره داده چه د معنو په ملك کښی دژبی او تو کم هیڅ تو پیر او بیلتون نشته او هلته هرخیل او هر تو کم د وحدت د باغ ګلو نه دی. عبدالقادر خټك چه ترهر چا زیات دحضرت جامی دمقام منو نکی دی په ډیر اغیز ناك ډول دغه مطلب ته ګو ته نیسی او وا یی

دمعنو په ملك پارسی عربی نشته کوم نقصان که عرب نه یم عجمی یم

لیکونکی : ن ـ ا ـ دووریانکوف

مترجم : ع ـ بختانی

د پښتونستان مسئله او افغانی شعرونه

دا مقاله د ختیځ پیژندونکو په علمی کنفرانس کښې د ۱۹۶۲ ع کال د جنوری په میاشت په لیننگراد کښې اورول شوی او د لیننگراد پوهنتون له خوا د دغه کنفرانس د نورو مقالو په ترڅ کښې چاپ شوی ده .

دهر ملت په ژوند کښې داسی واقعات راځی چه ددوی د راتلونکی سرنوشت دپاره فیصله شوی او ټاکلی معناگانی لری .

دا واقعات د شاعرانه الهام دپاره بې پایانه منبع گرځی او په ادبی آثارو کښې دماضی او حال په باره کښې دفکر د څرگندو لو سره مرسته کوی .

آرزوگانی ، تمایلات ، مسلکی نظر او دټولنې دراز راز طبقاتو بیداری ، ملی روحیه او د زمانی روحیه د ملی ادبیاتو د ویونکو او لیکونکو دپاره یوازی منبع نه گرځی بلکه اکثراً یی په معنا او فورم باندی هم مهم اثر کوی . په تیره بیا د عصر په هنری ادبیاتو کښې تاریخی مقالې او اطلاعات د هنرمندانو په ښکلو الفاظو په زړه پوری اغیزه کوی .

د جمال دوستی هغه پر نسیبونه او اخلاقی آرزو ګانی چه د هنرمندانو دهنر طبیعت ګرزیدلی هم دټولې انسانی نړۍ او هم دهر ملت دترقی دشرایطو تر بې غرضه تاریخی تاثیر لاندی راځی نو ځکه تل ادبی آثار هم د هغی لویی بشری ټولنی څخه متاثر کیږی چه جمال دوستی او ادبی عنعنه یی مرکبه ده او هم د هغو ملتونو دخصوصیت نه چه دلویی انسانی ټولنی اجزا دی او دهر یو ملی تاریخ دبل سره ورته نه دی.

ددغه خصوصیت دپوهیدلو سره دشرقی هیوادونو دتحریری ادبیاتو د مضامینو په خواکښی دملی هنرشفاهی آثارهم د ملتونو دتاریخ دپوهیدلو او پیژندلو دپاره ارزښتناکه منځګړل کیږی او کله لا داصلی تاریخی یادګارونو دنشتوالی په صورت دا آثار یوازینی ماخذ ګرځی.

هو! شاعرانه آثار نه تاریخی رسالې دی او نه دتاریخ درسی کتابونه، مګر په هغو کښې تر ټولو زیات واقعی تاریخ ستر ګو ته دریږی. بی سببه نه دی چه دنړۍ دادبیاتو ټول لوی شاعرانه شهکارونه دخپل عصر هیندارې بلل کیږی. اود پوشکین (افګینی انیګین) د (بیلنسکی) په وینا «دروسی ژوند دائرة المعارف» ؤ.

مونږ غواړو چه په دې مقاله کښی دجنګ نه وروسته په افغانی اشعارو کښی دملت دتاریخ او هغه د بیرته پاته کیدو دمتقابل ارتباط مسئلی ته توجه واړوو.

دپښتونستان داز ادی ګټلو دپاره دپښتون ملت مجادله دجنګ نه په ورسته دوره کښې داسې تاریخی مسئله ده چه په عملی توګه دافغانی شعرونو دترقی اصلی موثره منبع ده.

دپښتونستان دمسئلې اصلیت په څه شی کښې دی؟

په تیره پیړۍ کښې د یو او لس په ژوند انه کښې انګریز ي امپریالیزم دوه غاصبانه خونړی جنګونه دافغانستان په مقابل کښې پیښ کړل.

داخر ګنده ده چه لومړی انګلو-افغان جنګ (۱۸۳۹-۱۸۴۲ ع) او دو هم انګلو - افغان جنګ (۱۸۷۸ - ۱۸۸۰ ع) څنګه وو؟

امپریالزم په ښکاره ډول د دغه استعماری شعارنه الهام اخسته چه (اختلاف واچوه او حکومت و کړه).

په یوه پیړۍ کښې یې دننه د دریمې جګړې تهدید کاوه او افغانی امیریې په ۱۸۹۳ ع کال کښې مجبور کړ چه د هند په شمال غربی سرحد کښې د هند دانګریزی حکومت له نماینده ډیورنډ سره یوقرارداد لاس لیك کړی چه (دډیورنډ کرښه) نومیږی. اودهند او افغان دولتی سرحدیې داسی وټا که چه دسلیمان د غرونو په سلسله په هغه ولایت تیریږی چه د پښتنو زانګو ګڼل کیږی او یو ملت په دوو برخو ویشی.

ددوهمی عمومی جګړې په نتیجه کښې د شرقی ملتونو د ملی ازادۍ حرکت دنوی قوت سره شروع شو. او پښتون ملت (د ازادو قبایلو منطقه) یا دیده.

دیوې پیړۍ څخه زیاته مو ده دانګریز د تسلطخواهی د کوښښونو سره مقابله وشوه. په ۱۹۴۷ ع کال کښې دهند دویش څخه وروسته د ازاد پښتونستان د جوړولو غوښتنې ترقی وکړه.

دپښتونستان مسئله تراوسه پورې د افغانی مترقی ناسیونالیزم د اساسی ټکی په حیث پاته ده دا مسئله په خپله نوته کښې په افغانی

ادبیاتو کښې یوازینی اساس ټاکل کیږی او د ډیرو افغانی شاعرانو دهنر یوازینی هدف ټاکی . د پښتونستان د ازادۍ د پاره د مبارزې سوال د جنګ څخه په وروستیو کلونو په افغانستان کښې د بیدارو زلمیانو د منور نهضت سره لا ترقی وکړه.

د تاریخی پېښو حرکت لکه څرنګه چه ورته اشاره وشوه خصوصاً په دې دوره کښې ګړندی شو.

معاصرو منورینو یوازې داهیله نه لرله چه مروج علوم او معارف دهیواد اوولس په ترقی مفید اثر کوی، هغوی یوازې د زړو عاداتو خرافاتو او موهوماتو پرخلاف ونه دریدل بلکه د ملی او اجتماعی ازادۍ د پاره یې په سند رو ویلو پیل وکړ.

ښاغلی بینواد ټول تحریک د پاره خپل پروګرامی نظم په داسی الفاظو پای ته رسولی دی:

خپلې پایڅې موزولنې شوې
ځکه حال داسی ابتردی
زړه موسوزی خوله موپټه
دزړه درد ښودلی نه شو (۱)

د جنګ څخه دوروستی زمانی بل مشهور افغانی شاعر ګل پاچا الفت د پښتونستان په باره کښې په خپل یواوږد شعر (پښتون ته خطاب) کښې لیکلی دی :

پرون سالاروې نن دنور وصوبه دار پښتونه!
ډیورنګ شوخاوری ته یې خط کښې لا ایسار پښتونه! (۲)

« ۱ » پریشانه افکار کابل ۱۹۵۷ ع ۳۲ مخ .

« ۲ » غوره اشعار کابل ۱۹۵۶ ع ۱۱۶ مخ .

لکه هر حقیقی شعر غوندې چه د « بیلینسکی » خبره « د جنګ دوخت دژوندانه نبض » ښکاره کوی د افغانستان مترقی نو و شعرونو هم دټولنی دجوړ ولو په ترقی کښی عملی او مسلکی معنا حاصله کړه .

دا شعرونه د قومی آزادۍ دمبارزی له مطالبو نه ډک شول او په افغانستان کښې که څه هم د ګوانډیو ملکو نو لکه ایران، هند او نو ر و څخه « چیرته چه پرولتاری شعر و نه زیاتیږ ی » تو پیر درلو د خولو مړنیو ادبی حرکتو نود هغو مترقی ټو لنو د اساسی هدفو نو مطالب منعکس کول چه لږ ترلږه دخپلو او دمتوسطو قومی بور ژوازی دحقوقود پاره پورته شوی وو .

دې شعر ونو و کولی شول چه د امپر یالیزم او استعمار په مخالفت د ملتو نو په مبارزو کښی د ا حترام او افتخار و ړ ځای ونیسی .

د دې علا یقوسره په خاص ډ ول د ا فغا نی شاعرانو د ځوان نسل د ښو نما یند ګا نو د تو جه وړ هنر د شعرونو په ترقی کښی د خپلو استاذ انو نه یو بل قدم هم مخ په وړاند ی واخست :

خپل تیاره ژوندون رڼا کړه
یوځل و سوزه بر یښنا شه
استعمار ته پنجه ور کړه
د تازه فکر په خوا شه

د اکر ښی د افغانی زلمی شاعر حبیب الله تږی د منظو می څخه دی چه عنوان یی دی :

« د پښتون سندره »

آیا دد ې منظومې کرښې له هغو ډیرو ښو انقلابي رومانتیکي اشعارو څخه نه ګڼل کیږي چه د نړۍ په اشعارو کښې شهرت لري؟

خو هغوی د د غو الفاظو په ډیرو ښو افکارو کښې د عصر سره سم آواز کوي .

ز مونږ د عصر د پرمخ تللې ایډیال په طرفدارۍ دا ستعمار په مخالفت او د ملتو نو د آزادۍ د تاییدد پاره ځوان نسل د د غسې بیتو نو په نغمو غږ کوي :

ځان آزاد کړه ځان آزاد کړه
کړه ټوك ټوك زاړه د امونه
اې بچیه د پښتونه
اې د نوی ژوند مضمونه
پاڅه جوړ نوی جهان کړه !

دا کرښې هم د دیرش کلن شاعر حبیب الله تږی د همدغه منظومې (د پښتون سندره) څخه دی .

دوی له سره فلسفي عارفانه سندرې نه وایي .

دا شاعران د خلکو د حق د حاکمیت او د زیاتې د ماتولو د پاره د پوره بیدارۍ او عقیدې سره د «نوی ژوند» په باره کښې غږیږي .

دا به د کوم ځای نه راوتلی وي ؟

دا نو اوس یوازې په موجوده بې عدالیتو انتقاد نه دی بلکه د هغو په خلاف له حرارته ډك دعوت دی .

که څه هم د غسې شعرونه لا د خپلې مسلکي سطحې له مخه د انقلابي اشعارو سویې ته نه دی ختلي خو د اولس د اقتدار د پاره د مبارزې او عقیدې د شریف مطلب نه ډك دی .

دځوانیمرګ ملی شاعر ملنګ جان دتوجه وړ سرنوشت دافغانی شعرونو دارتقاء سره ارتباط لری .

بې مبالغی ویلی شوو چه دغه لوی شاعر چه داولس څخه پورته شوی دی دافغانستان اوپاکستان دننني سرحد ددواړو خو اوودپښتنو په منځ کښی فوق العاده نومیالی شاعرو چه په همدغه سبب یې په خپلو سندرو کښی خپل شاعرانه استعداد دشریف ملی عمومی هدف دخدمت دپاره وښود .

دملنګ جان سندرې چه اکثراً په کابل راډیو کښې هم خپرېدلی اودپښتونستان دآزادۍ د مبارزې دپاره یې دعوت کاوه د خلکو ډیرې زیاتې خوښیدې :

دوی لیدلی دآزاد ژوندون لذت دی
مرګ یې بولی چه محکوم ددوی ژوندون وی
څه نه څه که یې په کور کښی عداوت دی
خو دښمن دپاره بیا په یوتړون وی
پښتون نه دی په شا تللی له میدانه
ټول جهان وته ښکاره لکه د لمر دی

د۱۹۵۷ ع کال په پای کښی شاعر دموټر دچپه کیدو په اثر مړ شو. دده دژوند څلویښت کاله پوره شوو ، خودده شعر اوسندری په اولس کښې ژوندۍ دی اوتر ډیره وخته پوری به ژوند وکړی .

دجنګ څخه وروسته پښتو شعرونو په عملی ډول په افغانستان کښی خپله کړه وړه واړوله .

که چیری افغانی ملی مورخینو او ادب څیړونکو دخپل هیواد

لومړنی لس کلن آزاد ژوند « نوی حرکت » یا «افغانی رنسانس» ګڼلی نه‌وای نو په‌دی دوره کښې د افغانی شاعرانو هنر به خامخا د «ګل او بلبل» د فوق العاده قوی عنعنی په بند کښې ایسار پاته‌وای.

ددې وخت دافغانی مترقی شعرونو ترمنځ کله کله داسی نه چه یوازی مقایسه ممکنه نه‌ده بلکه عموماً عشق او دوطن‌مینه هم پخپلو لوړو نمونو کښې دخپلو زړه وړونکو مشخصاتو سره یو تر بله سره ګډ شوی دی اومعاصر آثار هم دعشق منظری لری چه د تاریخی هیواد دمنظرو ترسیم دملت دسرنوشت په‌باره کښی د غور ښه وسیله ګڼل شوی ده ،

دخیبر دلارې دتاریخی تحولاتو او د آزادۍ د ډیرو تاریخی جنګونو دپیښیدو دځای په باب کښې محمد ګلاب ننګرهاری وایی:

لوړی څوکې دې خیبره !
د قومی عظمت نښان دی
ستا لحظه لحظه خیبره !
خاطرونه ډک جهان دی (۱)

دجنګ نه‌په‌وروسته زمانه کښې‌په‌افغانی اشعارو کښې دپښتونستان دمطالبو ځای موندل او په‌ټولو افغانی ادبیاتو کښې دملت د تمایل ترقی یو تر بله مستقیم ارتباط لری .

هو ! دا طبیعی ده. ځکه چه په عمومی ملی معنا ددغو اشعارو دپاره دپښتونستان دآزادۍ ترمسئلی بله‌لویه مسئله نه‌وه او نه‌ده .

او دملت د تمایل دتکامل سره یو ځای جذبات او آرزوګانی په‌ښکاره ډول دیموکراتیکی شاعرانه فورم پیدا کی . په‌خپلو ټولو

(۱) ریدی ګلونه - کابل ۱۹۵۸ ع ۳۲ مخ .

هنری آثارو کښې افغانی شاعرانو دپښتونستان دمطالبو دخرګندولو په خوا کښې دملی اشعارو ملی شاعرانه نوعی اوفورم ته ډیره زیاته توجه کوله . (لکه لنډۍ - بګتۍ - لوبه - مقام - چاربیته اونور...) اوآرزویې لرله چه خپل آثار هم دغسې دیموکراتیک کړی .

ښاغلی بینوا (داولی؟) په منظومه کښې وایی :

(شوه بې وزنه زما شعرونه) په دې شعر کښې احتمال لری چه که دملنډې په صورت هم وی شاعر پردې یوشمیر نورو شعرونو قضاوت کړی وی چه د جنګ څخه وروسته په لومړنیو کلونو کښې ویل شوی دی .

په منثورو آثارو کښې دمنظومو نوعې ته اووښتل تصادفی خبره نه ده (اولکه چه په یولړ آثارو کښې کتل کیږی دا یوازی د«تاګور» تاثیر هم نه دی) .

هغه داسی نه دی چه یوازی یولړ لوړ هنری مطبوعاتی او ذوقی آثار جوړوی بلکه دافغانستان په معاصرو اشعارو کښی دخپل خاص تبلیغ (پریشانه افکار) اساس ږدی . دې نوعې ته توجه کول دښاغلی بینوا دهنریو باقاعده تطور دی .

داتطور دوخت دلویو سوالونو ترفعالیت لاندې دپخوانی شاعری دډیرو ښو عنعنو دترقی په پلان کښی روان ؤ .

په معاصره افغانی شاعری کښې د یو داسې نوی عاشقانه قهرمان قواره ښکاریږی چه هغه به دسبا ورځی مېړنی اودډیرو ښو شاعرانه جذباتو اوملی آرزوګانو ښکاره کوونکی وی .

خیر دی که په ځینو نوو شعرونو کښې لادحد بندی دفکر دتشخیص طبیعت پروت دی .

اوس دهغو کسانو درفعت اوشرافت استقبال نه کول بنه کار نه دی چه په اشعار وکښې یې هغه نوی عاشقانه قهرمان ننوتی دی چه د نوی ژوند تعمیر او د نوی اجتماعی سجیې لوی مبارز دی.

دساده اولس نه راپورته شوی پنځه دیرش کلن عبد الله بختانی په افغانستان کښې اوسنی مشهور شاعر په ۱۹۵۷ع کښې په دی باره کښې د توجه وړ شعر (ارمان) لیکلی دی:

چه د مینې تود بازاروی مونږ به نه یو
د عالم دغه روز گاروی مونږ به نه یو
چه د مال او د متاع بسه سوداوی
ټول د مینې خریداروی مونږ به نه یو

داغزل (۱۱) بیتونه لری خو د هغه نه لوی معاصر سوالونه پورته کیږی:

د مجبور او د جابر جګړه شی بسه
هر انسان ته اختیار وی مونږ به نه یو

او وړاندی وایی:

دادم په خاندان کښې ورورولی وی
نه مریی او نه بادار وی مونږ به نه یو

د غزل په وروستی بیت کښې د شاعر د تخلص یادول ضروردی، په دی برخه کښې بختانی وایی:

بختانیه هر څه پاتی له هر جاوی
تا نه پاته دا اشعار وی مونږ به نه یو (۱)

دا باید ووایو چه د بختانی په اشعار وکښې د پښتونستان د پاره مجادله

(۱) ـ د زړه راز کابل ـ ۱۹۵۷ع ـ ۲۸ مخ

دشرق دملتو نو دازادی غوښتلو دمجادلی دیوې کړۍ غوندی ښکاری ، دی لیکی:

دعبرت صحنه ده جوړه
مراکش پښتونستان کښې
زوره ورکوی جبرونه
په کمزورودې جهان کښې (۱)

دغسې ډیره اعلی کلاسیکی عنعنه په معاصره مبارزه کښی څپی وهی ، نوی شعرونه زېږوی ، داسې شعرونه چه که تراوسه مجبور نه دی نو په غیر مستقیمه توګه به ډیرزر په دی مجبور شی چه دځان په باره کښې وغږیږی دپښتونستان دموضوع اوسنی شعرونه دازادۍ دپاره د خپل رومانتیکی دعوت سره کاملا اجتماعی اودمترقی قوتو نو دمفکورو دیو والی دپاره پاته شول د ۱۹۴۰ او ۱۹۵۰ کلونو ترشرایطو لاندې دپښتونستان دمبارزی موضوع دازادی خواهۍ د منظومو خپرولو سره مساعدت وکړ.

دپښتونستان دملت دملی ازادۍ دمبارزې دموضوع دترقی په سبب افغانی حماسی شعرونو په قطعی ډول مدحی اوستاینې بس کړی اود نوی اجتماعی هدف دخدمت اود خلکو دمبارزی دپاره یی دازادۍ په لار کښې کارو کړ. دې نوی شاعرانه سطحې دزاړه فیودالی عشق دحاکمیت موقف وران کړاودی ته تیاره شوه چه یې د دیموکراسۍ په لار بوځی.

(۱) دزړه راز (۱۳۴) مخ

دښاغلی ممنون لیکنه او څیړنه

دلیکوال وظیفه

په لیکوالو کښی ګومان نه کوم چه یو داسی لیکوال پیداشی چه له ځان څخه پوښتنه ونه کړی چه زه څنګه لیکوال شوم او د څه دپاره مې دا مسلك غوره کړ ځکه چه د لیکوالۍ ژوند د ریاضت او تکلیف نه ډك ژوند دی. لیکوال د خلکو په بده ورځ ژاړی او د اجتماعی اند یښنو په سکرو ټو کښې سوزی. د مظلو مود او ښکو له مر غلر و نه خپلې ادبی در خو ته ښکلا ښی.

هو! که چیرې لیکوالی او نورې چارې سره مقایسه کړو دا خبره په زرغرده ثا بتیږی چه لیکوال دیولړ اند یښنو او نا امید یو سره وده کوی او په نورو کسبو نو کښې هغو مره ښه ژوند مو ندل کیږی چه لیکوال یې د ځان د پاره تصور هم نشی کولی.

زه هغه لیکوال یا دوم چه د اولسو نو د اند یښنو له تل نه پو رته شوی دی ز ما هغه لیکوال چه هنر په پیسو او چو کیو خر څو ی غرض نه دی بلکه زه هغه لیکوال یا دوم چه د بلو ډیو وغوندې دانسا نانو په خا طراتو کښی د تل د پاره رو ښا نه پا تی کیږ ی د نړۍ د ادب تار یخ په ډ یر صراحت سره دا خبره تا ئید وی چه د لو یو لیکوالو ژوند په لوږ و تندو او نور و لانجو کښی تیر شو ی دی او د بشر ی ټو لنو د خیر غوښتلو په نا مه قر بان شوی دی.

د څه د پاره لیکو؟

داخبره ډیرځلې زماپه ذهن کښې ګرځیدلې ده اودټولو لیکوالو په ذهنو کښې هم ګرځی او ګرځیدلې ده که څه هم ډیرو لیکوالو د دې خبرې ځواب ویلی دی مګر (سومرست) یوه پخه خبره کوی چه تقریبا ټول لیکوال یې منی هغه وایی (هرکله چه د لومړی ځل دپاره مالیکوالی شروع کړه نو لیکوالی راته یوه طبعی لاره ښکاره شوه اوپه دې لارې تلم اوخپله شپیلۍ می غږوله) هو! لکه چه مرغاوی له او بو نه غیر چاره نه لری او لمبا یې یوه فطری مشغولا ده. لیکوال هم په لیکلو نه ستو مانیږی او بې لیکلو چاره هم نه لری.

پهدې حساب لیکوالی یوه فطری ښښنه ګڼله کیږی لکه چه وینه د ژوند پهټولو دورو کښې پهرګونو کښې څرخی لیکوال هم تر څو چه ژوندی دی له خپلې لیکوالۍ نه لاس نهاخلی. دفرانسې د لوی انقلاب په پلار (روسو) چه اثار یې جاودان پاتې شول د لیکوالۍ له درکه په خیټه موړ نه ؤ بلکه د نقشواو د موسیقی په نوټونو یې شپې سباکولې. همدارنګه مو نتسکیو، مو لیر چه د ادب د اسمان روښانه ستوری دی دژوند دتیرولو د پاره یې نورې لارې پیداکړې وې او د لیکوالۍ له لارې یې عادی ژوند هم نه شو کولای خو بیا هم ددې عالی ذوق لمبه ددوی په زړونو کښې بلید له او ددوی د قریحی څراغ یې روښانه ؤ.

لیکوالی یوه طبیعی ښښنه ده:

ځینې خلك فکر کوی چه سړی قلم پورته کړی لیکوال دی، مګر نهفنکاراو هنرمند دومره عادی کسان نه دی یو غربې پوهاند وایی چه یو ستروا کمن کولی شی چه څو پاچایان جوړی کړ مګر

یو هنرمند او هغه چه په اصلي معنا هنرمندوی په ډیرو زمانو کښې هم یو یادوه مثاله ښودلی نه شي.

مګرد اخبره سمه نه ده ځکه لیکوال ځان په سړی منی که د سړی خوښه وی او که نه وی که لیکوال ته خیرر سیږی او که شرخوچاره تر ې نه لری. د فرانسی نامو شاعر (فرددی وی نی) په خپل د (شاعر ورځی) نومی اثر کې له ځان څخه داسی سوالو نه کوی. زه نه پوهیږم چه د څه د پاره می د لیکوالی سره مینه ده ځکه عزت اولما نځنه که د مرګ نه وروسته نو کومه ګټه یې څښتن ته رسیږی.

ځکه کومې لیکنې چه ما کړې دی دد ې د پاره نه دی چه څوك راته جایزه راکړی او یا کومه ګټه ورنه واخلم بلکه د زړه له تل نه مې راووځی او یو وجدانی مجبوریت مې دې کار ته راکاږی ځکه طبیعت تاد پاره شاعری مناسبه ګڼلې ده او ورسره مخامخ یې او ضرور طبیعت بریالی کیږی.

د لیکوالی مهم

هو اوس زیاتره لیکوال په دې عقیده دی چه لیکوالی یوه ښښنه ده او کسبی نه ده نو د اسوال ورسره سړی ته پیدا کیږی چه لیکوالی اوس انتباه ده او یا داچه باید اوس ورنه انتباه واخلی او یا لکه ځینی نور لیکوال چه وایی مونږ د اوس د پاره نه لیکو، څه چه لیکو هغه حق هم دی او د اسی استدلال کوی، ایا ممکنه ده چه سړی یوشی ولیکی او باور پرې ونه لری خو زما په عقیده د دې ټولو خبرو په منځ کښی د پخلا کیدلو نقطه شته ده. وایم لیکوالی د خلکو یوه اجتماعی متاع ده او خلك د ترقی خوا ته که چیری لیك مترقی وی بیایی. هو لیکوال د خپل ماحول نه انتباه اخلی او د خپلو ذهنیتو نو په لوښو کښی هغه اثر اچوی

او بیایی ټولنې ته وړ اند ې کوی دلیکو ال تأثر هغو خامو موا دو ته ورته دی چه یوه فابریکه یې له خلکو اخلی او بیا د خلکو د پاره تري ښکلی ټوکر ان جوړ یږی داټو کران هم د اولس مال دی او هم پکښې دفابریکې هنر ځلیږی داچه لیکوال څه وایی پرې باور هم لری او هغه دلو مړی ځل د پاره دځان او دخپل وجد ان دخو شالو لو په منظور وایی مګر د انسان فکر فر دی نه شی کیدلی. البته یوه ډله پر یوتی لیکوال هم په هره زمانه کښې منځ ته راځی چه هغوی په محدودو ساحو کښې تخیل کوی او دهغوی ادب دتورو تیلو ډیوه ده چه دزمانې بادونو ته تاب نه لری.

په دې شلمې پیړۍ کښې هغه ادب چه خلك دژوند انه له ساحی نه لری باسی او په الفاظو کښې معنوی مطالب له منځه وړی په لوړ اوعالی ادب کښې نه راځی. ځینې کسان بیا تورورو یځو ته پناه وړی اود ژوندله سرو غرمو نه تښتی او بیاد زلفو په شپه کښې شبستان جوړ وی اودشونډو په یاقوتی پیالو کښې دمچی شراب څښی. منفلوطی دعربو ستر لیکوال په خپل النظرات کښې وایی چه ما چه څه لیکلی دی د دې دپار نه دی چه خلك دخو لحظو د پاره خوښ کړی بلکه زماغایه دا ده چه هغوی ته ګټه ور سیږی اودا می هم ارزو نه وه چه ماو ستایی ځکه زما په لیکنو باندی ځینو خاصو او عامو خلکو تقریظونه او خبرې کړی دی مګر زه وایم چه دخاصو خلکو سره زما کومه علاقه نشته او زما په لیکنو کښې د هغوی د پاره څه نشته نوزه د هغوی په خو ښیدلو نه خو ښیږم اودهغوی په خپګان نه خپه کیږم ځکه چه ما دهغوی د پاره نه دی لیکلی بلکه ما هڅه کړی ده چه له هغوی نه څه وانه ورم ځکه زه له خپل فطرت نه خوښ یم په کومه ژبه چه مې لیکلی دی خلك مې دروغو ته

نه دی بللی او نه مې دورغ ویلی دی مسخرې او هجوی می نه دی ویلی او هغه لیکوال چه دخپل فطرت نه خلاف څه وایې غندل شوی دی. ادب مال نه دی چه دیو ښار نه بل ښار او د یو دکان نه بل ته نقل شی بلکه یو طبیعی حرکت دی چه بدیعی اثار ورځنی منځ ته راځی لکه دلمر نه رڼا او دګلانو نه بوی بې تکلیفه خوریږی همدارنګه هنری مظاهر ې دیو هنر مند نه بی تکلیفه ظاهر یږی .

(مازنی) یوستر لیکوال لیکوالی د جذب او وجد په حال کښی بولی دی وایی چه زیا تره داسی کیږی چه زه د روند شم له ستر ګومی او ښکی لاړی شی ، هر کله چه قلم په کاغذ کښیږدم خپله په خپله شیان لیکل کیږی که څه هم عمیق تفکر او لوړ تخیل کله کله لیکوال دلیکوالی په برخه کښې دداسی نظر یا تو په رایه وادارو ی خوربښتیا خبره هم داده چه دلیکوالو فکری حالت نسبت نورو وګړو ته فرق کوی ځکه برسیره پردی چه ښه انطباع اخلی ورسره افاده هم کولای شی او افاده یی ډیر وګړی درو انو حالاتو په یو سیر کښی اچوی .

داوه زمانیمګړی ځیږ نه دلیکوالی په بر کښی هیله ده چه لیکوال پری څه ډیر شیان ولیکی ...

. . . . . .

واسعی

د پښتو شعر او ادب خوږې خواوې

او خوند وراړ خونه

(۹)

هډ یا هډو کی په پښتو ادب کی په خاصو خاصو جملا تو او مخصوصو عباراتو کی مستعمل دی او پر خپل مورد او موقع په ضرب الامثالو او پښتو مقولاتو کی راځی مثلا پښتانه وائی. «پوخ هډ دی» یعنی کم سړی چه ستانه او روحانی یا اصیل او نجیب وی او دښې کورنۍ اولاد یا د حسب او نسب څښتن وی نو په پاخه هډ تعبیر ځنی کیږی پداسې موقع کې چه د یوه اسکیرلی او بخیل څخه یاد یوه شریر سړی دشر اوفساده څخه چه ځان ژغورل مقصد وی هم یو وبل ته وائی: «سپی دی هډو کی ور واچوه» یا «سپی دی په هډو کی ئې وو له» یوه بله مقوله وائی: «صبر خو سپی کړیدی چه برخه ئې هدو کی ورغلی دی» دا مقوله هغه وقت ارویدله کیږی چه یو پښتون بل یوه ته په صبر توصیه کوی نودی چه دخپل پښتنی غیرت او همت په تقاضا پرخواری او کیستی صبر ناروا بولی او باید هرومرود سعی او کوښښ لمنې ته لاس واچوی ځان د سیال سره سم کی نود ده دا توصیه نه منی او په جواب کی دغه مقوله ور ته وائی.

ز موږ پیاوړی ادیب او خوږ ژبی شاعر ښاغلی الفت دا پښتنی محاوره پر خپل ځای راوړی او د ژبی د ادبی روح سره سمه یې په یوه خواږه او زړه منونکی قالب کی په ادبی او شاعرانه قوت توی کړی او « د شاعر نظر » تر عنوان لاندې پخپله یوه ټوټه کی داسی وایی: د دنیا فانی عیشونه نعمتونه .

د سپی مخ کی پروت هډوکی ورته ښکاری

که څه هم په بیت کی د پښتو د مقولاتو یا ضرب المثل په بڼه کټ مټ نده راغلی مګر د مقولی او ضرب المثل روح چه د سپی رابطه له هډوکی سره ده په واضح ډول څرګند وې او د اتلاذم په یو داسی خواږه او خوندور انداز افاده کوی چه د کلام ارزښت او قیمت ئی ډیر لوړ کړی دی . د پښتو په محاوره کی یوه محاوره دا هم ده چه وائی « په نیمه پوه شه » یا « په نیمه و پهیږه » یا « په نیمه نه پوهیږی » دا درې محاورې یا مقولې هره یوه پرخپل موقع ځانته اهمیت لری او د ژبی پر ادبی بڼه خاصه اغیزه کوی لدغه نوعی متداولی او مشهوری جملې په نظم او نثر دواړو کی یوه باذوقه پښتانه ته ډیر ارزښت لری او لفظاً ومعناً دواړه خواوې پکښې موجوده بولی . دا محاوره ښاغلی الفت په خپل کلام کی په ډیره ښه توګه ریار کارته د خطاب په ترڅ کی راوړی او وائی:

ډیر دی غلط کړه توره شپه دې لکه ورځ وښوده

په نیمه پوه شه د ابیان دی نا تمام غوندی

په بیت کی « په نیمه پوه شه » کټ مټ محاوره ده او هیڅ تغیر ندی پکښی راغلی او پخپله مستعمله بڼه او مروج شکل په وروستنۍ مصرع کی داسی راغلې ده چه وروسته د(نا تمام) راوړل د دڅ

محاورې خوند او ښکلا نوره هم ورزیاته کړې ده .

ولی (په نیمه پوشه) خو پخپله هم دانیبی چه متکلم نه غواړی مقصد په غونډه خوله او صراحت بیان کړی بلکه په ضمنی توګه او داشارې په ډول د مخاطب پوهول غواړی. نو چه ورو سته ورته وایی دا کلام نا تمام غوندې دی طبعا یوه پلا بیا مخاطب ته دا برینبوی چه په نیمه پوه شه او (د نیمی ښخه ئی واخله)

ولاړه کړ دی په پښتو کی مشهوره محاوره ده او پښتانه پخپلو خبرو کی یوله بله د امقوله مستعملوي وایی ولاړه کړ دی مه نړیږه ګواکی دا یوه دعا ده چه دوستان او خپلوان ئی ترخپل میانځ سره کوی لکه دا چه هم سره وایی: (ولاړی او به دی مه وچیږه) یعنی موجوده حالت دی له لاسه مه وزه او ژندی دی مه مره هستی دی په نیستی مه بدلیږه دولاړی کړ دی محاوره ښاغلی الفت پخپله هغه ټوټه شعر کی راوړې ده چه د سپو ږمی ترعنوان لاندی وائی .

لاهماغسی ولاړی زموږ کړ دی دی نه مړه کیږی په هیڅ شان زموږ اورونه

په دې بیت کی شاعر د پښتو ادب دوې په زړه پوری او با ارزښته محاورې راوړی او خپل کلام ئې په خوندور کړی دی چه لمړی یی ولاړه کړ دی او دوهمه ئې په دوهمه مصرع کی نه مړه کید ونکی اور ونه دی چه دا محاوره هم په پښتو ژبه کی. خپل خاص مواردوا وموقعونه لری مثلا: پښتانه د بل یوه د عدم قدرت او ضعف څخه دا ورپه مړوالی تعبیر کوی او یو پلار خپل زوی ته داسی وائی «پر درس اولوست ئی اور مړ دی او په شوخی ولوبو کی خوراګړندی دی» یا دلته د متکلم مقصد دادی چه د اهلك درس نسی ویلای اولوست ته میل نلری مګر د شوخی اولوبو ډیر شوقی دی. زموږ پیاوړی شاعر خپل مقصد د غی محاورې په راوړلو

پخپل کلام کی په ډیره خوند وره اوخو ږه توګه افاده کړی دی اود پښتو ادبی خوږاړ خ ئی زموږ مخی ته ایښی دی .

مینه په ماتیدل یامینه نه ماتید ل په مثبت ا ومنفی دوا ړو توګو په پښتو کی مروجه اومشهوره محاوره ده. داد واړه هغه وقت دیوه پښتا نه له خولی څخه موږ ارو وچه دی غـواړی خپل ډ اډ اود زړه اطمینا ن په یوه مسئله کی مخا طب ته مثبت یا منفی ښکاره کی نو په مثبت ډول کی وائی مینه می په ما ته سوه او په منفی صو رت کی وائی مینه می نسوه په ما ته مثلا دیوه سړی ور و رمړ یا مسافر دی یو بل سړی چه دده ور ورته په رنګ او شکل وشباهت کی ور ته دی اودده دور ور مینه پرر اسی نو پدغه موقع کی دی ویلای سی چه «په ده می دو رو رمینه ما تیږی» یعنی چه ورته وګو ری یا ئی وو ینی داسی ورته وایسی لکه خپل مړه یا مسافرو رو رته چه وګو ری او لیدل ئی هغه کیف اومینه ؤخوند ور حاصل کی لکه دهغه دلید لو څخه چه به ور حاصلیده .

ښاغلی الفت سپوږمۍ ته دخطاب په ضمن کی دغه محاوره ر اوړی اوپه دې بیت کی وائی :

په تا با ندی داشنا مینه ما تیږی
ددردمنو تسلی در با ندی کیږی

دپښتنو یوه زړه عقیده او نظریه داوه چه مځکه دغوایی پر ښکر ولاړه ده هر وقت چه دغه غوئی سر وښو روی نو مځکه هم وښوری اوزلزله ځنی پیښه سی دازړه پښتنی نظریه زموږ په ملی ژ به پښتو کی دشعر اوادب له خوا ځان ښکاره کوی اوپه شعرو شاعری کی موږ ته په مخه ر اځی لکه دښاغلی الفت په یوه بیت کی چه بزګر ته دخطا ب په ضمن کی وائ:ی

ګوره پرې نږدې دا ځکه هستی شاړه
د نیا ده ستا د غوائی پر ښکر ولاړه

په بیت کی بوازی زړې د نیا اود پښتنو دې عقیدې ته اشاره نده سوی بلکه په عین حال کی د پښتو ژبی یو بله محاوره هم ژوندی سوی او په یوه ضمنی او نازك انداز د سړی فکر ور جلبوی. هغه عبارت له دې محاورې څخه دی چه پښتانه وایی «د نیا د پلانی پر سر ولاړه ده» د دې وینا څخه مقصد دادی چه هغه سړی چه د نیائی پر سر ولاړه بلل کیږی یو مهم سړی بولی او هر څه د ده له خوا او دده پذریعه کیدو نکی وی نو په بیت کی چه بز ګر ته وائی د نیا ستا د غوائی پر سر ولاړه ده مقصد ئی دادی چه که ستا غویی نه وی او ته یوې او کروکرونده نه وکی او کښت و زراعت ته لاس ورته نکړی د ئړی وګړی به خپل قوت او خوراکی مواد پیدا نکړای سی او دلوږی به مړه سی نو ځکه د نیا ستا د غوائی پر ښکر ولاړه ده او که ستا غوئی نه وی د نیا به ورانه او نړی وال به محوه او هلاك وی.

ټپر پدل: په پښتو ژبه کی یو خاص مصدر او یوه مخصوصه معنی افاده کوی چه په نورو ژبو مخصوصا په فارسی کی ئی په هغه کیف چه په پښتو کی یی لری ترجمه نده ممکنه دا ځکه چه ټپر پدل موږ په فارسی غیږد (لرزیدن) څخه په بله معنی نسو راوړای او یوه واحده کلمه چه موږ ورته موندلای سو همدغه ده مګر بیا هم هر پښتانه ته چه د دی پښتو لغت معنوی نزاکت ور معلوم وی پدې هم پوهیږی چه په فارسی کی دا نزاکت د (لرزیدن) په کلمه نسی افاده کیدلای او هغه معنوی قوت او نزاکت چه په (ټپر پدل) کی موجود دی بی افادی پاته کیږی.

دا لغت زموږ د پیاوړی شاعر پدی بیت کی راغلی دی چه وائی

ښایسته جو نه ږ دی ستا ګلان اور بل کښی
بورا هم ستا په ګلا نو ټپر یږ ی

اوس دا خبره کول په کار دی چه ددی لغت معنوی نزاکت ددی دپاره وخیړل سی چه د بیت ادبی خوند او خوږه خواخر کنده اولوستونکی ته ئی ار زښت معلوم سی نو ځکه وایو :

ټپر پدل ـ په پښتو کی دیوه قلبی او باطنی شوق او مینی څخه حکایت اود یوه داسی تمایل او هڅی څخه نمایندګی کوی چه په هیڅ توګه صرف نظر او تر تیریدل نه وی ځنی ممکن او دا په قدرت او طاقت کی نه وی چه دبل چالاس یا ستر ګی ته دوروړلو یا وراړ ولو اجا زه ورکی نود همدغه مختصر تشریح په اساس ګواکی ټپر پدل دیوه شی سره فوق العاده دلچسپی او علاقه لرلو ته وایی مګر دشعر اواد ب په نړی او دګل ؤ بلبل په کور او دمینی وعشق په افسانه کی چه دا لغت راسی هلته به هر ومرو دمین او معشوق په باب کی مستعمل سوی وی اومراد به ځنی هغه ټپر پد ل وی چه په دغه ما حو ل او محیط کی رواج وی .

دښاغلی الفت په کلام کی دپښتو د سوچه او محاوروی لغا تو استعمال دده دکلام دخوږ والی یو مهم علت دی او علاوه پر نورو جهاتو چه پکښی موجود دی دې ممیزی ته هر لوستو نکی متو جه کوی مثلا : وئیدل که څه هم په پښتو کی دوینا کو لو اوګړیدلو په معنی مستعمل دی مګر دذوق اوتحقیق څښتن پدی خبره ښه پوه دی چه پدی مصدر کی علاوه پر دغو معانی ؤیوه ناز که او ډیره باریکه افاده بله هم پرته ده چه هغه غیر دګړیدلو یا وینا کولو له کلما تو څخه یو بل تعبیر غواړی .

په وئید لو کی یو داسی کیف او معنی پر ته ده چه په ګړید لو اوو ینا کولو کی هغه کیف ندی موجود یعنی هره وینا کو ل او هر ګړید لو ته وئیدل نه ویل کیږی او داسی ډیر کیږ ی چه ځوك به ګړیږی مګر وئیږی به نه د ښاغلی الفت په کلام کی ددې نزاکت مراعات سوی دی او دا لغت پر خپل موقع او مقام په مناسب ډو ل راوړه سوی لکه د بلبل او نسیم تر میانځ په مرکه کی چه وایی :

نسیم ووې چه ستا مینه ظاهری ده
د ګل مخ کښی ستا همیش شور وزاری ده
ته ګلشن ته راځی هله چه سمسورشی
چه باغ و سپڼی ګلو نه نوستا کورشی
نن چه باغ له ګلو ډك دی ته وئیږی
په خزان کښی دلته کله لیدل کیږی

ځو بیتو نه وروسته پدغه مرکه کی نسیم ګل ته وائی :

کری کال د دې ګلشن کوم پالنه
د دې باغ دهری ونی ښه روز نه

دلته د (کری) کلمه چه غالبا په پښتو کی دمئونث په بڼه دور ځی سره د صفت په توګه راځی د کال سره راغلی او (کری کال) ویل سوی دی که څه هم د کال سره کری ویل د پښتو په محاوره کی ندی ارویدل سوی مګر زموږ د پیاوړی ادیب په کلام کی د بلاغت او فصاحت او د موقع او مقام سره داسی جوخت او مناسب راوړه سوی دی چه زړه سلام ورته کوی او خو له خوندځنی اخلی.

ولی؟ که دلته د کری پرځای ټوله کال یا ګرده کال ویل سوی وای دغو نه لطف و خوږوالی ئی نه افاده کاوه په کری روځ یا کری شپه یا کری کال کی د شپی یا روځی یاد کال د اجزا و څخه هر جز او برخه پکښی اراده کیږی یعنی په ټوله کال یا روځ کی داسی لحظه نه وی چه دی د ګل او ګلشن د روزنی او پالنی څخه اوزګار او بیکار وی.

(نور بیا

دقاهرې له الاذاعه څخه دښاغلی سیفی ترجمه

زما په زړه کښی دا ارمان پیدا شو
چه زه د دې شخص په وخت کښی ژوندی
وای او دده سره می ملاقات کړی وای.

زینب محمد حسین دخپلی اقتراح په لړ کښی دپوهانو او لیکوالو او دفن او فکر او ادب دخاوندانو څخه دا پوښتنه کړې ده چه:

دا طبیعی خبره ده چه په کوم وخت کښی یو مفکر او زعیم او فیلسوف د تاریخ مطالعه کوی او یا په بل عبارت په خپل دغه اوږد مزل کښی له دې زمانې څخه تر تېر وپېړیو پوری د فکر نیلی زغلوی نو په دې اوږد سفر کښی ارومرو د ځینو داسی شخیصتو نو د حالاتو او پېښو سره مخامخ کېږی چه دغه حالت دلو ستونکی پاملرنه ځان ته راګرځوی او دهغه په زړه کښی د دې خبرې هیله پیدا کوی چه باید زه دده خبری او کار نامې دخپل ژوندانه د لاری مشال کړم او د هغه سره ملاقات او خبری وکړم او ارمان چه زه ددی شخص په وخت کښی ژوندی وای او دده دغه حالات ما په خپلو سترګو لیدلی وای او په دې ډول می دده دجګو نظر یاتو څخه ګټه اخیستی وای، دا په خپله اقتراح کښی دا پوښتنه کوی چه که فرضاً دغه تېره زمانه بېرته راوګرځی او دغه دزمانی سرویس ستاسی دعصر په دی ټیسن ودرېږی نو به دغو

خلکو کښی به تاسی داسی کوم یو شخص ددې خبری دپاره غوره اوانتخاب کړیء چه تاسی دهغه سره دهغه دشخصیت او کارنامو په شا اوخوا کښی خبری وکړیء! او دغه لوړ شخصیت به څوك وی!

په لاندی کرښو کښی هغه جوابونه لیکلی کیږی چه د تاریخ په لحاظ پوهانو ددغو پوښتنو په ځواب کښی لیکلی دی:

دسقراط سره
زما په زړه
کښی داارمان پیدا
شو چه کاش ما د
سقراط په وخت کښی
ژوند کولای او په
هغه فضا کښی
می تنفس کړی وای
په کومه کښی چه
سقراط او ارستوفان
او «اربیدس»
اوفید یاس تنفس

کاوه او دا ځکه چه دغه وخت د علم او معرفت پوهی او حکمت د لمر لومړی څرك ؤ مگر په دی ټه لو کښی زه د سقراط د شخصیت سره ځکه ډیره مینه لرم چه ده خپل ځان په یو خاص قصر اومحل کښی نه ؤ بندی کړی بلکه دې به په خلکو گرځیده او دهغو سره به ئی خبری اتری او محلسونه کول او په لارو

کوڅو او مجلسونو او غونډو کښې به ئې فلسفې در سونه او نطقونو او موعظې او رولې، ده به په ډېرو عادي او آشنا الفاظو کښې خلکو ته نا آشنا حکمتونه او جګ معلومات وړاندې کول او په دې به یې هم قناعت نه کاوه چه په خپلو دغو در سونو کښې له عادي محاورې او په زړه پورې عبارت څخه کار واخلي بلکه ددغو محاورو سره به ئې لطیفې هم ملګرې کولې.

دې هغه لومړې فیلسوف دې چه د نظري بحثونو څخه ئې ډډه وکړه او د خپلې فلسفې بنسټ یې د انسان په خپل نفس او دده په حیاتي تصرفاتو کښېښود او دده د فلسفې هدف همدغه شي ؤ.

زه ځکه د ده سره ډېر مینه لرم چه ده خپل ټول ژوند علم او حکمت ته وقف کړی ؤ او به دې لار کښې ئې هیڅ بو تکلیف ته اهیمت نه ورکاوه ده د خپلو جلادانو په مخکښې یو داسې جګ موقف غوره کړی ؤ چه د دغه موقف په اثر ده خپل کرامت په ځای وساته. ما د دې پیاوړې د تاریخ او پېښو په لړ کښې کوم داډول شي ونه لید چه په بندي خانه کښې دې دده په زړه یو ډېر لږ تاثیر هم کړی وی او یا دې دده زړه ته کوم جزوی ټکان هم ورکړی وی ده د بندي خانې څخه د تښتېدلو نه انکار وکړ او په خپل لاس ئې د زهر ډوکه پیاله وچښله او مرګ ته ئې په ډېر متانت او زړورتیا غاړه کښېښوولې.

که څه هم دده حالات زما په زړه کښې داار مان را پیدا کوی چه زه دده په وخت کښې ژوندی اوددم سره یو ځای وای لیکن که زه دده سره وای هم نو زه به له ده څخه پټېدلای او دا ځکه چه ده یو وه داسې ژبه وره ښځه لر له چه تل به ده ته په وینا ګډه وه او تل به ئې دی په دې ملامتا وه چه تا ته پر ته له خبرو بل هیڅ نه درسېږی. (یحیی حقی)

درسول (ص) سره دهغه د کامل انسانیت په ماحول کښې :

چه د نبوت په عصر کښې مې په مکه او مدینه کښې استوګنه درلودای او خدای زما دا نیکمرغی په برخه کړی وای چه په دغو مجلسونو کښې مې ګډون کړی او حقیقی انسانی ژوندمې په خپله اصلی بڼه لیدلې او هغه کارنامې او ناآشنا فعالیتونه مې په خپلو سترګو لیدلی وای چه دانسانانو دانسانیت په تکمیل کښې ئې بې ساری اثر څرګند کړی ؤ که څه هم زه دانسانیت دغه حقیقی بڼه دقرآن مجید په مقدس پاڼو او دسیرت په کتابونو کښې وینم او که څه هم دغه ځلاند ماضی نن هم زما زړه په دغه مقدسه سیمه پورې تړلی دی مګر سره ددې هم ددې خبرې ارمان کوم چه دغه ځلانده ماضی مې دخپلو ځلاند وفعالیتونو سره په مجسم ډول په خپلو سترګو لیدلی وای ..

که څه هم تاریخ درسول کریم لوړ او دانسانیت دبشپړ کوونکی پیغمبر دجګ شخصیت سره حلک تریوې اندازې آشنا کړی دی او د حقیقت ئې هم څرګند کړی دی چه دې رسول د خپل ساده او بسیط تعلیم او ښې معاملې او جګو اخلاقو په ذریعه بشرې ټولنه د انسانی کرامت لوړ و مدار جوته رسولې ده.

مګر سره ددې هم زه دې خبرې ارمان کوم چه ما دغه رحمة للعالمین په هغه وخت کښې په خپلو سترګو لیدلی وای چه دې مبارک ذات د مریونو سره مینه کوله او هغو ته ئې ډاډ او تسلی ورکوله او د هغو مات زړونه ئې راپورته کول، او په هغه وخت کښې مې په خپلو سترګو لیدلی وای چه دیسیمانو او ښکې ئې پاکولې

او په هغه وخت کښې مې په خپلو ستر ګو لیدلی وای چه په ده په لو مړی ځل وحي نازلیدله او په هغه وخت کښې مې په خپلو ستر ګو لیدلی وای چه دی مکې ته فاتح بیر ته راغی، او د دې خبر ی ارمان کوم چه دې مبارک ذات سره مې د «احد» او د «بدر» د غزا ګانو نه وروسته خبری او ملاقات کړی وای او په دغه وخت کښې مې دفاتح او مفتوح نفسی کیفیتو نه په خپلو ستر ګو لیدلی وای. ارمان چه دی ماد «حنین» په ورځ په هغه وخت کښې لیدلی وای چه دې مبارک ذات دانصار و د مصالحت په خصوص کښې خپله مشهوره خطبه لو ستله. او ارمان چه ما دی په هغه وخت کښې په خپلو ستر ګو لیدلی وای چه دی «طائف» ته ولاړ او په داسی حال بیر ته راغی چه د دې مبارک ذات دهغو ټولو تکلیفو نو په نتیجه کښې یوازی یو مرئی دده په رسالت ایمان راوړی ؤ او په هغه وخت کښې مې لیدلی وای چه ده د بی وزلو سره یو ځای کور حوړل چه په دی بې زړو لو کښې یو غریب مریی هم ؤ چه هغه په ده ایمان راوړ. دی د دغه شخص په ایمان ډیر خوشحاله شو او دغه مریی د ایمان راوړلو نه وروسته د طائف دلویانو دقالغ کولو دپاره طائف ته ولاړ دغه خلاند ه ماضی داسی خوږې وږمې او خاطرې لری چه تر نن ورځې پورې دغه خاطرې او وږمې په دغه مقدسه سیمه کښې کښنه پورته کړی او تر نن ورځې پورې په ملیونو حاجیان په دغو وږ مو په دغه مقدسه سیمه کښې خپل مړاوی زړو نه تازه کوی مګر سره د دې ټولو خبرو دلږ ساعت د پاره یواری د نبی علیه السلام د مبارک مخ لیدل د ټول عمر سره برابر دی

(سهیر القلماوی)

دعمر دعدالت سره :

زه دا ارمان لرم چه په هغه عصر کښی می ژوند کړی وای چه هغه عصر زموږ ددی عصر سره لږ و ډېر شباهت لری یعنی د حضرت عمر بن الخطاب په عصر کښی . . . ۱ وداځکه چه ده لکه موږ غوندی په نو یواصو لویوقوی دولت جوړ کړاو په دغه دولت کښی یې دانسانی کرامت بنسټ کښېښود او په خلکو کښی ئی مساوات قایم کړاو د دغواصولو په اثر په توراوسپین او زېر کښی کوم فرق پاته نه شو . . .

داهغه عصر ؤ چه په دغه عصر کښې حاکم د دولت او رعیت حدود ؤ پیژندل او همدغه عصر ؤ چه هر کله په دغه عصر کښی غازیانو د هغو ځمکو دوپش غوښتنه وکړه چه په شام ، عراق او مصر کښی ئې نیولی وې نو دحکومت له خوا ورته د اعلان وشو چه ځمکی د حکومت مال دی او لکه د ولجې د نور مالونو غوندی نه شی ویشلی کېدلای ، د عدالت په دغه عصر کښی . . . . . د غریب او امیر په منځ کښی کوم فرق او امتیاز پاته نه شو . . . . او ټول سره مساوی او برابر شول . د دې کار په نتیجه کښی ټولو خلکو حکومت خپل حکومت وګاڼه او هر چا د حکومت دمانۍ په پورته کولو کښی یوه یوه حښته کښېښوله چه په نتیجه کښی ور څخه یو ډېر لوی قصر جوړ شو . نو که ما په په دغه وخت کښی ژوندون درلودای نو ما به په خپل ځان د غریب کومان ځکه نه وای کړی چه ما به دا خیال کاوه چه زه په داسی عصر کښی ژوندون کوم لکه څنګه چه یې نن په اوسنی عصر کښی کوم

(عبدالحمید الحدیدی)

دجمال الدین افغان دجرئت سره:

هر کله چه ما دجمال الدین افغان سیرة او تاریخ ولوست نو زما په زړه کښی ددې خبری ارمان پیدا شو چه ارمان ما دده په وخت کښی ژوندون درلودای او په هغه وخت کښی مادی په خپلو ستر گو لیدلی وای چه ده زما هیواد د درانده خوب څخه راوښاوه د هیواد څخه په دې ځای کښی زما مطلب ټول عربی او اسلامی ملکو نه دی ....

سید جمال الدین افغان

جمال الدین افغان یو مفکر عالم او داجتماعی او سیاسی او دینی فلسفې خاوندؤ. دی یو داسی زړور شخص ؤ چه خپله نظر یه به ئې د مغرورو استعمار چیانو او مستبد و خلکو په مخکښی په ډیره صریحه لهجه څرگندوله او دغه خلک به د ده د آواز نه داسی بېر یدل لکه څنگه چه د زمری د آواز څخه نور ژوی بېر یږی،

ده به د ظالمانو په مقابل کښی مظلو مان را پور ته کول او د دې مرام د ترسره کولو د پاره به په خلکو کښی گرځېده، هر کله چه دی مصر ته راغی نو وېښ ځلمیان او نور د فکر خاوندان د ده

خوا ته را ټول شول او لکه چه تار یخو نو لیکلی دی دی به په کافی ګانو کښی کښیناسته او په دغو ځا یو کښی به ئی په خلکو باندی په خو له حکمتونه او په لاسو نو چا ی و یشلې، له دی نه ور وسته ده په از هر کښی ځای ونیو او د دغو تعلیمو نو او نور و دینی درسو نو په خپر ولو ئې پیل و کړ چه د دې کار په نتیجه کښی مر تجعین دده په مخالفت کښی را پورته شول او دی دا نتظامی قواوله خواو نیولاې شو مګر ده دغه کارته هیڅ اهمیت ور نه کړ، هر کله چه پولیس له ده څخه دا پوښتنه و کړه چه ستا ما لو نه او کتا بخا نه په کوم ځای کښی ده نوده ورته په ځواب کښی و ویل چه ز ما مال دا زما په ځان اغو ستی کالی دی او ز ما کتا بخا نه دا زما خپله سینه ده او بس . . . .

له دې خبر و اترو او سوال جواب نه وروسته دی مر تجعینو دې دپاره په یو جهاز کښی کښیناوه چه دخپل ملک نه ئې دباندی و باسی ، په دې وخت کښی ده څخه ډیر مصریا ن او په مصر کښی ډیر پښتا نه او ایرانیان ورغلل او دلاری د مصر ف دپاره یې ده ته څه روپۍ وړاند کړې ده له هغو څخه روپۍ وانه خیستلې د دې کار په ا ثر هغوی له ده څخه پوښتنه وکړه چه ته خو په دې وخت کښی یو نا آ شنا ملک ته ځې نو ته به په هغه نا آشنا ملک کښی په تش لا س څنګه ژوند و کړې ده ور ته په جواب کسی وویل:

زمری په هیڅ ځای کښی نه بې ښکاه کېږی ، زه د ډوډۍ ډېره پروانه لرم او نه په دې شیانو پسی ګر ځم

جمال الدین افغانی هغه شخص دی چه دی به زموږ په هیواد مصر کښی کلی په کلی ګر ځېده او د بز ګر واو نور وسره به ئې خواله او خبرې اترې کولې

کولې اوله هغو څخه به ئې داپو ښتئی کولې چه ته څه خورې او څه کار او کسب کوی او په کوم کسب او صنعت ښه پوهېږی ، ده به هغوی ایدل چه دوی په هر څه پوهېږی مگر سره ددی هم وږی دی، په دغه وخت کښې به جمال الدین افغان دغو خلکو ته په جگ آواز ویل :

«ای بزگره ! زه تا ته حیران یم... ته څنگه د اوسپنی په سپاره مځکه څیری او دخپل مټ په زور دمځکې نه هر ډول خواړه راباسې مگر ته په خپله وږی تږی او لڅ لغړ پاته کیږی اوستا گټه استعمار چیان خوری ... نو ته دمځکی په ځای اول داستعمار چیانو خیټی ولې نه څیری ؟»:

لکه چه دده داوینا ترنن ورځی په خلکو کښی دیو متل په حیث شهرت لری، ماته دده دژوندانه دپیښو دمطالعې په لړ کښی داارمان راپیداشو چه زه باید ارومرودی شخص سره خبری اتری اوملاقات وکړم اوزه ددی شخص په سیوری کښی ژوندون وکړم اوله ده څخه زدکړه وکړم او دا ارمان لرم چه دی ژوندی وای او په مصر کښی ئې استوگنه درلودای؟ اوده نن په خپلو ستر گولیدلی وای چه کوم تخمونه چه ده زموږ په خاوره کښی شیندلی وو هغه نن څنگه سمسور اودمیو ونه ډك شوی دی اواستعمار زموږ دملك نه څنگه پښې سپکی کړی او کډه ئې ورنه کړی ده جمال الدین افغان هغه شخص دی چه ده په خپل فوق العاده تبلیغ خلك له در انده خوب څخه را ویښ کړل او دی هغه مؤذن دی چه ده په خپل اذان خلك لمانځه ته حاضر کړل ... کوم لمونځ ته ؟ .

دحریت او آزادۍ اجتماعی بدلون اوسیاسی لمونځ ته ...

(کامل الشناوی)

دشکسپیر دعبقریت سره:



ما ته دا ارمان
پیدا شوچه ارمان
ما د شکسپیر په
وخت کښی ژوند
کړی وای اودهغه
سره مې لیدل کتل
اوملاقات کړی وای
اوپه دی لړ کښی
مې په دی خبره
ځان پوه کړی وای
چه دی په رښتیاد
خپلودغورواینتو نو
حقیقی مئولف دی
اوکه بل څوك دی ...
اوپه دی لړ کښی مې
د ده د عبقریت پهراز او نو ر و شیا نو یعنی د ده په شخصیت او
هغه عبقریت حه په دغه قوت ده ادب په مختلفو شکلو نو کښی خلکو ته
وراندی کړ پهپوره ډول ځان پوه کړی وای اوددههغه روا یتونهمی
لیدلی وای چه دلو مړی ځل دپاره دتمثیل په صحنه لو بول کیدل
... اوپهدی لړ کښی مې دده او ددغورواینتو نو دشخصیتو نو په
منځ کښی پهحقیقی رابطهځان پوه کړی وای ... اوپه دیخبره
مې ځان پوه کړی وایچهدده په کورنی کښی اول چالهدهسره په مخالف

گوتې پوري کړي او د خپلې مور او ښځې او اولادونو سره دده تعلقات څنگه ؤ ، په تېره بیا د هغو لیکنو په رڼا کښې چه د تحلیلي علم النفس پوهانو د «هامت» په خصوص کښې لیکلي دي ما هم د ده شخصیت پېژاندلای وای . . . او ددې خبرې ډېر ارمان راغی چه ما دلوړ واوجگو شخصیتونو په مقابل کښې دده موقف معلوم کړی وای په تېره بیا هغه علاقه او رابطه چه ده دټول واکمنی الیزابت او نورو انگلیسي ډیوکانو سره لرله او دهغو په مقابل کښې دده موقف څه ؤ او دهغه په خصوص کښې دده حقیقي رای څه وه او هغو ده ته په کومه سترگه کتل ؟ ...

او ددې خبرې معلومول مې غوښتل چه دې په خپل دغه عبقریت پوهیده او که نه؟ او په دې هم پوهیده چه دې کومه ټاکلې نقشه لري او که نه ... او بیا دې څنگه له تالیفونو څخه پاته شو او بېرته ور څخه یو عادي شخصیت جوړ شو ... او دغه کوم عوامل ؤ چه دغه لوړ او پیاوړي ادبي شخصیت ئې بېرته عادي شخصیت ته را کښته کړ . . . تاجرانو سره به ده څه ویل ؟

او چا به دوی ته په پور پیسې ورکولې ؟.. آیا دادب خبرې وې او که د تجارت ؟

په پای کښې زما په زړه کښې دې لوړ شخصیت سره د ملاقات تنده پیدا شوه او دا ارمان راغی چه ده سره مې کتلی وای که ماده سره لیدلی وای نو له ده څخه به مې دومره څه زده کړی وای چه نن به زه دډرامو په لیکلو کښې د نعمان، عاشور، یوسف او ادریس څخه په ډې فن کښې ډېر پورته وای.

(نجیب محفوظ)

دگاندی در وح سره :



د دې اوږد سفر په لړ کښې زما په زړه کښې دا ارمان بیدا شو چه زه دگاندی په وخت کښې ژوندی او د ده نژ دې حپلو انو څخه وای ... چه د دې کار په اثر ما د احقیقت ځا ن ته معلو م کړی وای چه هغه کوم روحی قو ت ؤ چه د غه قو ت ډېر مختلف خلک ځان ته راټول کړل او دغه خلک ئې په یو ډېر سوله نا ک ډول د استعمار او نورو خرافاتو په مقابل کښې په کار واچول او په دغه سوله نا ک جنگ او مقابله کښې ئې په استعمار او خرافاتو دواړه بری وموند . . .

زه دې شخص ته ډېر حیران یم ، او زه د دې شخص افکارو او فلسفې اصو لو او ار اردی قوت او هغه پوخ یقین چه ده په خپلو دغو اصولو او فلسفه درلود په ډېر تعجب کښې اچولی یم د اسی فکر چه د دغه فکر په قوت دې هند د استعمار د منگو لو څخه بې د کوم جنگ او ما دی قوت څخه او بې له دې چه کومی وسلی ته لاس کړی او تل د عدم تشدد نارې

وهی خلاص کړی .. سره ددې چه په خپله دې مجاهده کښې دی دډېرو زیارو نور بړونو او لوږو تند وسره مخامخ شو لیکن دغو ټولو شیانو د ده په اراده کښې کوم خلل او تغیر را نه وستلای شو او بری دده په بر خه شو ....

که څه هم دې ډول نا آشنا ؤ او عجیبه پېښو سره انسان په تاریخ کښې کله کله مخامخ کېږی ... له همدې کبله زه تل ددې خبرې ارمان کوم چه ارمان چه مادار وحی قوت کشف کړی وای چه ډېر لوی لوی کارونه ترسره کولای شی .

(احسان عبدالقدوس)

د دې عصر سره :

زه له دغه عصر نه چه زه پکښې ژوندون کوم ډېر راضی او خوشحال یم که څه هم دغه عصر د تاریخ او تطوراتو په تله کښې دډېرو پېښو او تحولاتو او حوادثو څخه ډک وی مگر سره ددې هم زه داعقیده لرم چه دا ژوندون زما دهیلو سره برابر دی ...

له دې کبله ما په دغه لار کښې بیخې هیڅ فکر نه دی کړی ، سره ددی چه زه دمختلفو پېړیو دقهرمانانو سیرتونه او کارنامې په ډېر دقت سره لولم او په دې لړ کښې زه کله کله دځینو داسی پېړیو سره مخامخ کېږم چه دغه ارمان می په زړه کښې راژوندی کېږی او وایم چه ارمان زه هم په دې عصر کښې وای ...

لیکن په دې لړ کښې داهم یوه ضروری خبره ده چه باید موږ د تاریخ هغه پخوانی روایت ته ځیر شو چه په هغه وخت کښې موږ په دغه عصر

کښې ژوند نه درلودله دې کار څخه به موږ دې نتیجې ته ورسېږو چه دتاریخ پخوانی روایتونه هغو خلکو ته ډېر ښه ښکارېږی چه په هغه عصر کښې ئې ژوندون نه وی کړی، او دا ځکه چه کوم خلک چه دتاریخ په هغه عصر کښې ژوندون کوی هغه دخپل تاریخ دجریاناتو په ښېګڼو دومره ښه نه پوهېږی لکه څومره چه دتېر تاریخ دواقعاتو دلوستلو په خت کښې پوهېږی او په دې اساس دتېر تاریخ او موجوده تاریخ دلیدلو او لوستلو په منځ کښې پیوستون نا مکمن کاردی او دا ځکه چه په تېر وواقعاتو حکم کول دهغه وخت په نسبت ډېر رښتیا وی چه په هغه وخت کښې انسان د جریاناتو په صحنه کښې ولاړ وی مګر سره ددې ټولو خبرو زه دغه عصر خو ښوم چه زه پکښې ژوندون کوم نه هغه عصر چه زه دهغه عصر خیال او تصور کوم .

(زکی عبدالقادر)

دقلمي نسخو پېژندنه : لیکونکی دولت محمد (لودین)

دبدری جمالي او سیف الملوک

د قیصي دوهمه نسخه

دبدری جمالي او سیف الملوک دقیصي دوهمه نسخه دپښتو ټولنې په کتابخانه کښې شته خو نیمګړې ده همدارنګه دپښتو ټولنې په کتابخانه کښې د سیف الملوک د کیسې په نوم یوه بشپړه او مکمله نسخه هم شته چه پروسږ کال دکابل مجلې دعقرب میاشتې په ګڼه کښې ګرانو لوستونکو ته معرفی شوې ده .

څه رنګه چه دیوه اولس افراد دخپل ژوند اساسی تګ لیار دتېرو خویو ، افکارو ، پېښو کاچر او نورو د پوهېدو له مخې ټاکی - ولی چه انسان خپل ژوند له سره نه شروع کوی له هغه ځایه ئې شروع کوی چه نورو رته رسید لی وی همدا سبب دی څوک چه څه لولی ځینی برخې ئی ضرور دده احساساتو او خواهشاتو سره سمون خوری چه دهمدی لارې ورته دیوه خواږه او ښکلی ژوند پته لګیږی پښتو ټولنه دهمدغه منظور له مخی غواړی چه خپل قلمی اثار چه تراوسه لا خپاره شوی نه دی په ډېر غور ترژورې کتنې او څېړنی لاندې ونیسی - لومړی ئې ښاغلو لوستونکو ته ورمعرفی کړی - که دخپرولو او استفادې وړ وګڼل شی نو بیا به دعامی استفادې په

غرض خپاره کړی شی دسیف الملوك او بدری دکیسې دغه دواړه نسخې په یوه خوبره کیسه شاملې دی مگر ددواړو په الفاظو کښې یو څه تو پیر شته دی دبدری جمالې او سیف الملوك دوهمه نسخه په سر اومنځ کښې څه قدر کمبو د او نیمگړې ده یعنی پنځه لومړی مخونه نه لری شپږم مخ ئی هم په نشت حساب دی . ځکه ددغه مخ سرو نه شو کېدلی دی چه دهر بیت لو مړی مسره ئی ورسره نیمه نیمه څېرې شوې ده ځینې مسرې ئې چه پاتی دی هغه هم ښې نه لوستل کیږی مقصد داچه شپږم مخ ئی دپوره استفادی وړ نه دی .

له شپږم مخ نه تر (۴۱) مخه پورې پاڼې ئی هم له منځه تللی دی مگر پس له (۴۱) مخه بیا تر پایه پوری چه (دسیف الملوك دکیسې له اولی نسخی سره پر تله او مقابله شوه بله کومه پاڼه یې له منځه نه ده تللی او پوره ده .

ددې دوهمې نسخې ناظم هم ولی محمد نو میرزی اودواړه نسخې دیوه سړی دی د(بدری جمالې اوسیف الملوك) دوهمې نسخې کښې دومره بیتو نه نشته لکه په لومړی نسخه کښې چه شته مگر دکیسې مفهوم دبیتونو په لړوالی له منځه نه ځی ځکه داصلی کیسې دجریان سلسله پکښې جاری ساتلې شوې ده شاعر پکښې دخپلو احساساتو او هیجاناتو دډېروالی مخه نیولې ده. ددی له پاره چه ګران لوستونکی په دغه تو پیر ښه پوه شی له هرې یوی څخه یوه یوه نمونه لاندې لیکم :

دلومړی نسخې نمونه :

چه نامداره ار تینې وې دهغه ښهر

په دیدن یې دهغو ښځو زړونه وړل

ښایسته وښایسته ته شوې حیرانې
دیوانه به شوې چه چاورته کتل
که هر څوی تقوا ډېره وه په زړه کښې
هغه دم یې د زاهد و زړونه وړل
ګویا آفتاب و مهتاب یوځای سره په قرار شو
یا سپوږمۍ د څورلسم ښکاره کېدل
دځوانانو مجلس شه سره یوځای جمع
په نغمو یې د عاشق زړونه لوټل
کږې وروځې یې لیندې باڼو یې غشی
ناوکی و و عاشقان یې قتلول
شهزاده لکه عقیق سیمین بدن ؤ
خوله یې جوړه دیاقو تو چاویل
دواړه وروځې یې کږې وې ګډې وډې
کج بانه چشمان شهلا حسا بیدل
ددوهمې نسخې نمونه :
چه نامداره ښځې وې د هغه شهر
په دیدن یې هغه ښځو زړونه وړل
ښایسته وښایسته ته شوې حیرانې
دېوانه شوې چه به چاورته کتل
شهزاده لکه عقیق سیمین بدن و
خوله یې جوړه له یاقو تو چاویل
دواړه وروځې یې پیوسته ګډې وډې
کج باڼه چشمان شهلا حسا بېدل

دپور تنیو نمو نو څخه جو تیږی چه په لومړی نسخه کښې ځینې بیتو نه شته چه] په دوهمه نسخه کښې نشته مګر اصلی موضوع نه ده پاتې شوې یوازې دومره شوی چه په یوه کسه کښې توصیف اوستاینې ته ډېره پاملرنه او توجه شوې ده او په بله کښې اصلی موضوع تعقیب شوې ده او زیاتو ستاینو ته ډېر تمایل نه دی سکاره شوی .

ددو همې نسخې ټوله پاتې برخه (۳۹) مخه کیږی چه په نستعلیق خط لیکل شوې ده بې له شپږم مخ نه چه نیمګړی دی، اوڅوار لس بیته دی، نور مخونه یې پنځلس پنځلس بیتو نه دی- ددوهمې نسخې پنځه لومړی او (۳۵) منځنی مخونه له منځه تللی دی له همدې کبله ورته نیمګړی نسخه ویل کیږی .

ددغه کتاب پاتې برخې دپښتو ټولنې له خوا په پېړ کاغذ وقایه شوی دی چه دڅېړی کېدو او خرابیدو څخه په امن کښې وساتل شی .

که څه هم ددغه کتاب دبیتو نو مفهوم کټ مټ دلومړی نسخې غوندې دی مګر زیاتر و بیتو نو کښې یې الفاظ کټ مټ یو شان نه دی ځکه ځینې الفاظ یا بیتې سره بدل دی یا یو څه تغیر لری. یا داسې شوی چه دالفاظو موقعیتو نو تغیر خوړلی وی . لکه په دې لاندینو نمونو کښې چه ګران لوستو نکی به یې پخپله ووینی .

د دوهمې نسخې :

مصلحت یې د کاغذ د قاصد وشه
پټ دحال حقیقت ترورته کړم اظهاره
چه څوك ولیږم وترورته شهسواره
دایې وویل سیمین پای لره بایده دی
تمام حال به دملوك په کاغذو ښکم
چه داترورمې شی له حاله خبرداره

دایې وښکل چه ای تروري په غوږ واوره
هم اګاه شه زما خوږ زړه له ازاره
زړه مې بایلو په دې څوان دیو نه کیږم
ګران چار شوه و ما ته دو څاره
د خوږ زړه مې زر و کړه طبیبې
ګڼه اوس مرم تر زمان زه بیماره
شهزاده صاحب جمال دانا عاقل دی
ما قبول کړی دی عاشق شومه بسیاره

دلومړی نسخې څخه :

مصلحت یې د قاصد د کاغذ و شه
چه د پټ راز حقیت ترور ته کړم اظهار
دایې ووی سیمین پالره بایده دی
چه څوک ولیږم ترور لره شهسواره
تمام حال به د ملوک په کاغذ وښکوم
چه د اتر ورمی شی له حاله خبر داره
دایې ووی چه ای تروري په غوږ واوره
هم اګاه شه زما د خوږ زړه له ازاره
زړه مې بایلو د په د اځوان نور می توان نشته
ګرانه چار وینم وما ته شوه دو څاره
د خوږ زړه دارومې زر و کړه طبیبې
ګڼه اوس مرم تر زمانه زه بیماره
شهزاده صاحب جمال دانا عاقل دی
سعیه کړه چه پرې عاشق شوم بسیاره

دپور تنیو دو اړ و نمو نو توپیر ته که څوک په غور سره ځیر شی ممکن چه ددو اړ و لفظی فرق ورته ډېر ژرجوت شی. یعنی دکیسې مفهوم په دوا ړو کتابو کښې یوشان دی مګر لفظونه یې سره اوښتی را اوښتې او بدل دی.

په دو همه نسخه کښې د پښتو دخالصو تورو له ډلې څخه ځنیې تورې په اوسنی رسم الخط نه دی لیکل شوی لکه:

۱ـ ځ: دغه توری د (څ) په شکل لیکل شوی دی لکه په دې بیتو نو کښې:

څوک یې واستول ملوك هغه څای نه ؤ
په طلب ستړی ستوما ن شو تر سهاره
دایې وویل هغه څوان هغه څای نه ؤ
بیامو نه موند بېرته راغی په تلوار

۲ـ (ګ): دغه توری د (ک) په شکل ښکل شوی دی لکه:

کرد غبار لښکر یې ولیده په ستر کو
د دوه کون لښکر جمع څو قطار

۳ـ (ڼ): د (نړ) په شکل لیکل شوی لکه:

وخپل مخ یې دخپل زوی په مخ ومیښ
ښی کینړ لاس یې خدای ته ونیو بې مندیله
شهزاده ویل یارانو تد بیر کانړی ؤ
چه نن شپه فراغت څملو تر سهاره

په دې کتاب کښې د پښتو تور نوری دا وسنی رسم الخط سره سم لیکل شوی دی.

مګر (ټ) کله پخپله د (ټ) په شکل لیکل شوې ده او کله د (تړ) په شکل لکه په دې بیتو نو کښې:

د پتړ ېدو مجال یې نه ود له هیبت
نور یې دی په منګول واخیست په تلوار
په ښا ماربه یې غوتړې غوتړې وهلې
د فرزند غم یې کاوه د ځان از موده
دغه دوهمه نسخه که څه هم د او سنی لیک دودسره سمه نه ده
مګر که لږ غور ورته وشی لوستل یې ډېر ګران نه دی
پرته له ځینو برخو څخه نور ټول کتاب په اسانی او ښه توګه لوستل
کیږی .
د دغې نسخی د لیکلو نېټه معلومه نه ده .
په دغه دوهمه نسخه کښې د پښتو ځینې سو چه پخوانی لغات شته چه
اوس له استعماله لویدلی دی مګر ډېر خوندور او په زړه پورې لغات دی
لکه : ځبله . نهیل . ګوشک ، کښېده ، ډمامه او نور چه په لاندی
بیتونو کښې ښودل کیږی .
چه دا هسې دوه یاران ځبله جدا شو
ما نا حق په یار د زړه مینه تړله
رنځ دیده دور افتاده ورک هغه زه یم
که مې پېژنې او ازله ستر ګو نهیله
زر یې ډېر د شهزادة په سر نثار کړ .
هم یې ګوشک ورکه خوشرنګ جنت ثانی
هغه ګوشک هم په زرو کښیده و .
حرم سرای پرده کنار زرافشانی
څلور مه ورځ یې پلار ورپسې راغی
په غرزی په ډما مو توغ ونغار .

دبدری جمالې اوسیف الملوك پېژند ګلوی :

سیف الملوك دخپلې ځوانۍ دولس کاله عمر دخپلې خوږې معشوقې پسې په پردیسۍ او ربړونو تیر کړه تش دعکس په لیدلو ورباندې مین شوی ؤ.

« د ملوك دغه خوږه اوله هر څه څخه ورته ګرانه معشوقه (بدری جماله) وه دکیسې له قراینو څخه داسې معلومیږی چه (بدری جماله) د هندیا دهند دګاونډیو هیواد ویوه نازولې شهزادګۍ وه .

ملوك د مصر یو نازولی شهزاده ؤ چه د عاصم پاچا زوی ؤ.

د ملوك مور (ملکه جهان آرا) نومېده چه د یمن د پاچا ګرانه او ښکلې لور وه. دملوك پلار بله ماینه هم درلوده خو دهغې څخه یې نه زوی ؤ او نه لور نو ځکه یې (جهان آرا) یعنی د ملوك مور وکړه».

ملوك پس له ډېرو تکالیفو اور بړونو ګاللو څخه مراد ته ورسېد او خپله خوږه معشوقه یې د سر په ستر ګو وکتله او واده یې کړه . دواده کولونه یوه میاشت وروسته خپل پلار نی هواد یعنې مصر ته وخوځېد او دمور و پلار سره یې ملاقات وشو ، ملوك پسې یې پلار په ستر ګو ړوند شوی ؤ. مګر کله یې چه د خپل ګران زوی خوږ او ازغوږو ته ورسېد دستر ګو نور یې بیر ته پیدا شو ملوك یې په غړیدلو ستر ګو وکوت او د خدای (ج) شکرونه یې پر ځای کړل.

دملوك پلار او مور تر (اوو) میاشتو پورې ژوندی وو - پس له هغه ملوك دمصر پاچاشو او اوه ویشت کاله یې د مصر پاچهی وکړه او بیا یې ځان حق ته وسپاره .

ددو همي نسخي نمونه :

القصه ملوک يې ورووست تر شهپال
د پادشاه سلام يې وکړ څو تقريره

په ادب لاس په نامه ورته ولاړ ؤ
ده ويل کښېنه فراغت نور بې تقصيره

چه شهپال دملوک حسن ته نظر کړ
حق حيران شو چه يې وليد په ځير ځيره

د آفتاب شغله يې تله مخ له جبين
ډير خوښ شو د شهپال پادشاه نظيره

شهپال وويل که هر څو دې چا صفت کړ
هيچا نه کاوه باور ستا تقصيره

دې پرې واره حضور دې ځواب غواړي
تا پوښتونې له بوځو مسئلو ميره

که د دوی معنا دې راکړ له ځواب
دوی هم له تا خبر شي له تعبيره

دوی وايي چه محنت يې صنايع نه ؤ
چه دهر معنی کامل له تفسيره

شهزاده ويل له کوم کړې پوښتنې
له حکمت که له حديث که له تفسيره

شهپال وويل چه و مونږ نه نژدې څه دی
شهزاده ويل نژدې مرګ دی له تقديره

لیکو نکی : اسلا نوف
په مسکو کښی د پښتو استاذ

مترجم معتمد شنواری

د افغانستان د ملی ژبی جوړیده او انکشاف

-۲

د دې د پاره چه د پښتو ژبی په جریاناتو او څه رنګوالی و پوهېږو لومړی باید د دې ژبې په ګرامری خصوصیاتو او غږ پوهنې لنډ نظر واچوو او بیا د مقصد خواته لاړ شو .

پښتو د چوپو تورو په ډېر والی سره د نورو ژبو نه امتیازلری په دې ژبه کښی د ېرش چوپ توری موجود دی، د پښتو څېر ېبرال صامت توری په هندی ژبو کښی شته ، مګر د ایرانی ژبو (فاړسی او تاجیکی) نه د دې ژبی بېلوالی په (څ ځ) او داسی نورو تورو سره راغلی دی .

(رېټر فلیکس) او ازو نه چه دا دا په وخت کښی یې د ژبې سر د تالو ګومبت ته ور اوړی په لاندې ډول دی :

(ږ، ډ، ڼ، ړ، ټ، ښ). د « ږ » او از په لویدیزه لهجه کښی د « ژ » غوندې دی او په ختیزه کښی د « ګ » په شان دی مګر د دې توری د پاره په غلجیی لهجو کښی یو دریم متوسط او از شته چه د ختیزې او لویدیزې لهجو ترمنځ ادا کیږی .

د پښتو ختیزی او لویدیزی لهجی د « ښ » په ادا کښی هم سره

مختلفې دی ، په لو یدیزه لهجه کښی دا توری د « ش » غوندې تلفظ کیږی او په ختیزه کښی د « خ » په شان ادا کیږی .

باید وو ایو چه په لویدیزه لهجه کښی « ښ » کټ مټ دساده « ش » غوندې نه تلفظ کیږی بلکه فرق لری ، دافرق تاسی په دې جوړه کلمو کښی پوره حس کولای شی : (ښادی، شادی- ښی،شی) د « ډ » او « ټ » توری دغا ښیز و تورو « د » او « ت » نه پوره فرق لری د « ډ » او « ټ » د تلفظ په حالت کښی د ژبې سر نسبتاً شا ته میلان کوی .

د « ړ » توری په پښتو کښی یو له سختو تورو څخه حسابیږی او مخصوص تمرین غواړی ، ددې توری د تلفظ په وخت کښی دژبی سرد تالو له ګومبت سره پیوست کیږی ، « ړ » باید د « ر » غوندی تلفظ نه شی او نه باید د«ل» غوندې وویل شی او که نه دکلمې معنی تغیر کوی د (موړ) او (مور) کلمې نه ښائی چه یو رنګ ولوستل شی ځکه دا بېلی بېلی کلمی دی اوفرق ئی په همدې توری راغلی دی ، د « ړ » په شان د « ڼ » توری هم دسختو تورو له جملی څخه دی ، په پښتو کښی داسی کلمه نشته چه په « ڼ » شروع شوی وی ځکه « ڼ » دکلمی په سر کښی نه راځی .

په پښتو ژبه کښی د « څ » توری ډېر اورېدل کیږی لکه څوك ، څه څا او نور .

د « ف » توری چه شونډیز ، غا ښیز توری دی یوازی د پښتو په هغو کلما تو کښی لیدل کیږی چه دنور و ژبو نه اقتباس شوی وی، دا حرف په پښتو کښی کله په « و » بدلیږی لکه افغانۍ چه پښتانه ئی (او غانۍ) وائی اواکثر په « پ » بدلیږی لکه دعربی

فکر چه پښتانه ئې پکرلولی، هو! یوازې د (اف) په لفظ کښې پښتانه په خپله په «ف» خو له خو ځوی.

په پښتو کښې د «و» توری معمولا غاښیزدی په تېره بیا چه دکلمې په اخر کښې راشی مګر د شونډیز صامت غوندې هم تلفظ کیږی کله چه په منځ د کلمې کښې راغلی وی.

دژبې دمخکښنۍ برخې دصامتو تورو (د، ت، ن، س) تلفظ کټ مټ دروسی ژبې د (د، ت، ن، س) غوندې دی او کوم فرق نه لری.

د «پښتو «ژ» او «ش» د روسی ژبې د «ژ» او «ش» څخه نرم دی او په تلفظ کښې پوستوالی لری.

د پښتو «ل» د روسی «ل» سره نژدی دی بې دهغه «ل» نه چه د الله په کلمه کښې واقع دی.

«ب» او «م» دروسی «ب» او «م» غوندې دی یوازی دومره خبره ده چه «ب» د کلمې په اخر کښې امکان لری چه په «و» بدله شی.

د «ق» حرف د پښتو په هغو کلماتو کښې لیدل کیږی چه دعربی یا ترکی ژبو څخه اقتباس شوی وی. داد پښتو خپل توری نه دی پښتانه دا توری په «ك» بدلوی. کله کله په «خ» بدلیږی لکه (وقت - وحت) او کله په «غ» هم بدلیږی لکه (قران غران) «ع» او «ح» یوازی په عربی اقتباسی کلمو کښې موندل کیږی «ع» یا «ه» سره بدلیږی او یا له منځه وځی مګر کله چه له منځه وځی نو ضرور همسایه صایت توری ته تغیر ورکوی.

په پښتو کښې ابتدا په ساکن را تلای شی حتی د و ه، د ری ساکنه هم د کلمې په سر کښې ممکن دی لکه (سخنوندر).

مونږ مخکښې وویل چه پښتو دیرش صامت توري لري همدا راز اته صایت توري هم لري چه په دې ډول دي (ا، ه، ۀ، ی، ې، ۍ ؛ ی (معروفه)، و).

زورکي چه یو منځني حرکت دي د پښتو ژبي د خصوصیاتو نه ګڼل کیږي، د دې لاندې جوړه کلمو د مقایسې نه تاسې زورکي معلومولای شيء ګډ) مشترک ګډ) پسه (تېره چاړه) (تېرۀ چاکو) (پل) د پښې اثر (پل) بخشش، د ې جوړه کلمو دوهمي کلمې زورکي لري.

په پښتو کښې هغه کلمې چه الف لري د هغه کلمو نه جلا دي چه یوازي زور لري دالاندې جوړه کلمې ولولئ: بار، بر-وار - ور- لاس، لس هار-هر:

د «ع» ا «ه» توري پښتانه په ځینو ځایونو کښې د «ې» غوندې لولي لکه واقع چه دوی یې (واکې) او مهربانی چه دوی ئې مېربانی لولي.

په پښتو ژبه کښې خچ ډېر اهمیت لري، خچ آزاد دي د کلمې په هره هجا راتلای شي مګر په لومړۍ هجا نسبتاً لږ راځي لکه (اسمان) دلته په دوهم الف خچ دي (تالنده) په الف خچ دي (ژرنده) د «ر» نه وروسته په زور باندې دي (سلګري) د «ک» نه وروسته په زورکي باندې دي.

هغه کلمې چه د حروفو ترتیب او تشکیل ئې یوشان دي د خچ په ذریعه ئې معنی سره بېلیږي لکه (پېښې) که خچ په لومړۍ «ې» راشي نو حوادث ورنه مراد یږي او که په دوهمې «ې» راشي نو د تقلید معنی ورکوي یا لکه (جاله) که خچ او فشار په الف ۱ چول شي نو معنی یې د مرغیو اشیانه کیږي او که خچ او زور په «ه» راشي نو د کښې معنی ورکوي.

کله چه په کلمو کښې تصریف او تغیر راشي دا امکان هم شته چه خچ د یوه ځای نه بل ځای ته نقل شي لکه (پښتون) خچ په «و» دی مګر په (پښتانه) کښې خچ د «ن» نه وروسته په رور کی دی، یاداسی نور درواخله.

هغه بز بز توری چه خچ لری اوږده ادا کیږی وهغه چه خچ نه لری هغه لنډوی، دعلت توری چه دخیشومی «ڼ» ترڅنګه واقع شي هغه هم دغسی صفت پیدا کوی.

بر سېره په دې چه د کلمو په هیجا ؤ باندې خچ راځی د جملې اجزاهم خچ لری د یوه ګروپ د کلمو په منځ کښې چه کومه ډیره مقصودی وی هغه مخصوص فشار او خچ غواړی چه په دی وسیله د نورو نه امتیاز پیدا کوی. په پښتو کښې په عمومی ډول دخچ مسئله او دکلام آهنګونه نه تدریس کیږی او بی اعتنا دی.

دهمسایه ژبو دتاثیر له کبله دپښتو په ځینو لهجو کښې د دغی ژبی دعلت تورو څه تغیر کړی دی او خپل آوازئی بدل کړی دی مثلا دکاکړو په لهجه کښې (توری سترګی) داوږد «و» په ځای په څرګند «و» ویل کیږی.

دمختلفو لهجو دجریان په نتیجه کښې په ډیرو کلمو کښې حرفونه سره مخکښې او وروسته کیږی او نقل مکان کوی لکه ورځ. روځ- مځکه ځمکه اوستری. وروستی -ولږه لوږه- ولیدل لویدل- اوریدل، ارویدل، همدارازد دغورابلو نکو کلمو په سر کښې تبدیل او تغیر ډیر لیدل کیږی: لمر، نمر، نور، مر-لمسی. نمسی، مسی اوداسی نور چه دی کار د رسم الخط په مسایلو او د قاموسو نو په ترتیبو لو کښې مشکلات پیدا کړی دی.

پښتو خپل مخصوص ګرامرلری چه دفارسی او تاجکی نه بیل دی

د پښتو صفت دخپل موصوف سره په تذکیر او تانیث، افراد او جمعه کښې مطابق وي لکه تور مېز، توره تخته، توري سترګې.

اسم ذات، اسم صفت، اسم عدد، اسم ضمیر په پښتو کښې تصریف کیږي یعنې دوه پدیژة (حالته) لري یو ئې اصلي او بل ئې فرعي. مثلا (سړی) په ملینه «ی» مفرده صیغه ده او اصلي حالت دی او که عامل ور باندی راشي او وویل شي (د سړی کار باید معلوم وي په څرګنده «ی» دلته هم مفرده صیغه ده مګر په فرعي حالت کښې یعنې (سړی په څرګنده «ی» هم مفرده صیغه ده او هم د جمعي ده، مفرده صیغه ده په فرعي حالت کښې او د جمعي صیغه ده په اصلي حالت کښې د جمعي په صورت کښې فرعي حالت (سړیو) راځي لکه (د سړیو کار هیواد ابادول دی) یا لکه (پښتون) چه فرعي حالت ئې (پښتانه) دی دلته تاسي وینئ چه پښتون او پښتانه دواړه مفرد ې صیغې دی مګر پښتون په اصلي حالت کښې مفرد دی او پښتانه په فرعي حالت کښې مفرد دی او که پښتانه په اصلي حالت کښې واخلو نو بیا جمعه ده چه فرعي صورت ئې (پښتنو) راځي یا داسې نور مثالونه در واخله.

د پښتو د افعالو سیستم یوه اندازه سختي لري او خصوصاً بیا ګردانونه ئې په دریواړو زمانو کښې پوره سخت دی

د پښتو افعال دوه حالته لري یو استمراري بل مطلق، استمراري لکه (خوړ) مطلق لکه- (وخوړ) باید داخبره زده شي چه مطلق په څو شیو نو سره راتلای شي لومړی د «و» په زیاتوالي سره لکه (ورسید) چه استمراري صورت ئې (رسید) دی (ونیسه!) چه استمراري صورت ئې (نیسه!) دی او کله دا کښې به زیاتوالي سره هم راځي لکه (کښیږده) چه استمراري صورت یې (ږده) دی

دوهم د معاون فعل په کومك سره لکه (تیر شه!) چه استمرار ئی (تیر بره!) دی .

دریم دخچ په انتقال سره لکه (پر بووت) که خچ او فشار په «ی» راشی نو مطلقه ماضی ده او که په «و» راشی نو استمراری ماضی ده . دحال په صیغو کښی د ټولو غایبو د پاره یوه صیغه راځی لکه (کوی) مثالونه ئی په دی ډول ولولئ (دی کار کوی ، دا کار کوی ، دوی کار کوی) .

د پښتو د خصوصیاتو نه یوه دا قاعده په نظر کښی ونیسئ چه په متعدی ماضی کښی فعل په تذکیر او تانیث ، افراد او جمعه کښی د مفعول تابع وی نه د فاعل او د اهم په نظر کښی ونیسئ چه فاعل به په فرعی حالت کښی وی لکه (ما کتاب واخیست) سړی (په ځرګنده ی کتاب واخیست سړیو کتاب واخیست) د لته تاسی وینئ چه په پورته دریو اړو حالتو نو کښی فعل (واخیست) د مفرد مذکر په صورت راغلی دی او دا ځکه چه مفعول (کتاب) په دریو اړو صورتونو کښی مفرد مذکر دی او فاعل ته (ما ، سړی ، سړیو) کوم اعتبار نه دی ورکول شوی او په دی مثالونو کښی دا هم وینئ چه فاعل په فرعی حالت کښی دی ځکه (ما) دازه فرعی حالت دی او (سړی) په ځرګنده «ی» د (سړی) په ملینه «ی» فرعی حالت دی او (سړیو) د (سړی) فرعی او دوهم حالت دی

پښتو ډیری لهجی لری مګر په دوه لهجو کښی سره خلاصه کیږی چه یوه ختیزه او بله لویدیزه ده ، لکه چه مونږ مخکښی ورته اشاره وکړه ددی دوه لهجو لوی تفاوت یو په «ښ» اسی دی چه لویدیزئی تقریبا د «ش» غوندی وائی او ختیزئی د «خ» په شان وائی او بل په «ږ» کښی دی چه په لویدیزه لهجه کښی د «ژ» غوندی

ویل کیږی او په ختیزه کښی د «گ» په شان تلفظ کیږی ، ددی دوه لهجو دغه لاندی فرقونه هم دیادونی دی: هغه مونث اسمونه چه په اخر کښی بی خچه (ه) لری لکه (سترگه) په ختیزه لهجه کښی دجمعی او دتغیر په حال کښی «مجهوله ې» راځی لکه: (سترگې) او په لویدیزه کښی په څرگنده «ی» راځی لکه (سترگی)، همدارازکه داسم صفت او ترتیبی عدد په آخر کښی همداسی «ة» وی دلته هم لویدیزه لهجه په څرگنده «ی» اوختیزه په اوږده «ی» ده.

هغه مونث اسمونه چه په آخر کښی «ا» لری لکه (غوا) دختیز گروپ دیوسف زیو په لهجه کښې مفرد او جمعه یو قسم استعمالیږی لکه یوه غوا، پنځه غوا مگر د مومندو په لهجه کښی چه دوی هم د ختیز گروپ له جملی نه دی دجمعې صیغه (غواوې یا غواگانې) استعمالیږی ، ددې لهجی فرق دلویدیزی لهجی سره یوازی په «ی» کښی دی چه لویدیز ئې په څرگنده «ی» وائی .

په لویدیزه لهجه کښی د جمعی مذکر دپاره سو فیکس (ان) راځی تر دې چه په بې سا جمعو کښې هم دغه سو فیکس ویل کیږی لکه آس ، اسان ، نوم ، نومان .

د (دوه) عدد په ختیزه لهجه کښې دمونث شکل نه لری او ویل کیږی دوه سړی . دوه ښځی مگر په لویدیزه کښې دمونث دپاره (دوې) ویل کیږی ، مثلا دوه سړی ، دوې ښځی .

په لویدیزه لهجه کښی دجمعی مخاطب دپاره د (آست) خاتمه راځی لکه تاسې وایاست ، تاسی تیریداست ، تاسی یاست مگر په ختیزه کښې بیا فعل داخاتمه نه لری هلته داسی ویل کیږی: تاسې وایی ء ، تاسی تیریدی ء ، تاسې یی ء ، ددې توپیر سره سره په لویدیزه لهجه کښې

دمفرد غایب دپاره په ماضی فعل کښې دای) خاتمه راځی لکه (ورسېدی) چه په ختیزه کښې (ورسېد) ویل کیږی .

په لوید یزه کښې د (پر) ادات استعمالیږی چه همدا ادات بیا په ختیزه کښی په) (په) سره ویل کیږی.

په ختیزه لهجه کښی د (نه) لاحقه راځی چه بیا په لوید یزه کښی (څخه) استعما لیږی.

(په ښار کښی) داعبارت په ختیزه اصطلاح کښی (ښار کښی) ویل کیږی، مثلا ښار کښی وم.

دغه ډیر ویل کیدونکی مصدر (شول) په لوید یزه کښی اکثر په (سول) سره ویل کیږی سره ددی چه په لهجو کښې تو پیر شته دختیز و او لوید یزو لهجو خلك په ښه شا ن سر ه کو لای شی چه یو تر بله سره تر ډیر وخته وگړ یږ ی او په مطلب سره وپوهیږی، ددې خبرې یو مثال دپښتو دمشهور لیکوال حمزه شنواری دپو هاند محمد ا صغر سره خبر ې او مفاهمه ده، سر ددې چه شنواری دختیزی لهجې دکور نۍ نه او پوها ند دلو ید یزې نه دی .

پښتو مختلفې اوډیرې لهجی لری چه تر اوسه پوری ټولی په پوره اندازه سره نه دی زده شوې . د (گر یرسون) په کتاب کښی د پښتو لهجو دیوې برخی مختصر خواص بیان شوی دی او دهغو نمونی ور کښی راغلی دی مگر پو ره معلومات او کافی مواد ددغو لهجو په باره کښی ناروی (مار گینستیرنی) په کارو نو کښې ځای شوی دی او هلته پوره مطالعه کیدا ی شی .

تراوسه پوری په دې باره کښی کار نه دی شو ی چه ا د بی ژ به خومره تاثیر په لهجو اچوی ، . دملی ژ بی دانکشا ف په وخت کښی دعه تا ثیر په مکتب، ا ر دو او په د ایر و کښی ډیر قو ی شو ی د ی د پښتو هغه قاموس چه د پښتو ټولنی له خوا چاپ شوی دی ددی خبری

بنه مثال دی چه پښتو مختلفی لهجی لری او دنور و ژبو لغات هم ور کښې ننوتی دی .

د پښتو دلهجو په زده کړه کښې لوی کار هغه ګرځند ګروپ په غاړه لری چه څه موده پخوا د پښتو ټولنې له خوا ددی کار دپاره موظف شوی ؤ، ددی ګروپ وظیفه د پښتو دمختلفو لهجو راغونډول ،د لهجو غږیز او ګرامری خواص معرفی کول، متنو نه لیکل او قاموسونه جوړول دی .

سره ددی چه ګرامری جوړښت مختلف او دلغاتو پانګې یوراز نه دی بیا هم دپښتو لهجو نه یوه متحده ژبه جوړه ده ، دمختلفو لهجو خلک کولای شی چه یو تر بله سره خبری اترې وکړی او یو بل ته خپل مطلب ښکاره کړی مثلاورد ګی کولای شی چه دوزیر ستانی سره خبری وکړی ، وزیری کولای شی چه دمومند سره وګړیږی مومند کولای شی چه دمنګل سره مرکه وکړی، منګل کولای شی چه قطغنی سره خبری اتری وکړی، قطغنی کولای شی چه دشنواری سره مفاهمه وکړی او شنواری کولای شی چه د هراتی پښتانه سره ازادی خبری وکړی .

دخلیل مومند و یا پېښوری لهجه ختیږې لهجی ته منسوبه ده ددی لهجی له خواصو نه یودادی چه « ژ » په کښې په « ج » بدلیږی لکه ژوند چه دوی ئې جوند وائی، په ماضی کښې دمفرد غایب دپاره مثلا د(راغی) په ځای (راغلو) تلفظ کیږی د(ورسید) په ځای (ورسیدو) ویل کیږی دربط ادات (دی) په دی لهجه کښې د(دې) غوندی ویل کیږی پېښوری لهجه د ختیزی ادبی ژبی د پاره اساس ګرځیدلی دی غلجی لهجه په ختیز ګروپ کښې دویونکو له حیثه تر ټولو زیاته

ده د«ږ»او«ښ»په آوازونو کښې دالهجه ځانله خپل خصوصیت لری دضمیر ونو په تلفظ کښې دنورولهجو نه بیلوالی لری مثلا د(زما) په ځای دوی(دې ما)وائی دستا په ځای(دېتا)وائی ،د تلل دمصدر نه په مطلقه ماضی کښې د نور وختیز و لهجو غوندی (لاړ) وائی چه دا صورت بیا په لویدیزه لهجه کښې (ولاړ)ویل کیږی بایدووایو چه ډیر لویدیز غلجیان کندهارۍ پښتو وانی .

یوسف زائی لهجه دنور ولهجو نه په دی کښې امتیاز لری چه دوی«ږ» کټ مټ د«ګ»ـغو ندې وائی او «ښ» عیناد ساده «خ» په شان تلفظ کوی. د «څ» توری د«س، غوندی وائی لکه څوک چه دوی ئی (سوک) وائی همد اراز «ځ» په ساده «ز» بدلوی او «ژ»په «ج» بدلوی لکه ژرنده چه په دی لهجه کښې جرنده ویل کیږی ،هغه مونث اسمونه چه په اخر کښې الف لری په دی لهجه کښې دجمعی صیغه نه لری مثلا په دې لهجه کښې ویل کیږی یوه غوا، شپږ غوا، د(ته) لاحقه د(له) غوندی وائی، مثلا د (ماته) په ځای (ماله) وائی ، د(په) ادات په دې لهجه کښې د(پا) غوندې ویل کیږی اود(به) مشهور ه علامه د(با)غوندی وائی لکه (خپل پلار ته با(به) ورشم)، په دې لهجه کښې ډیر اثار لیکل شوی دی او ډیر ادبیات لری.

داپرید یو لهجه یوه له هغو لهجو نه ده چه دختیز و لهجو په منځ کښې پوره بیلوالی لری، د(پلار)) په ځای(پلور)وائی ،دکار په ځای (کور) استعمالوی د (لاس) په ځای (لوس) وائی ، د(درته)او (ورته)ضمیر ونه دوی (دېرته اووېرته)وائی ، دظرف کلمه (دلته) د (دېلته) غوندی تلفظکوی او خصوصا ډیر بارز تو پیر د تلفظ

له حشه په دغو را تلو نکو ضمیرو نو کښې حس کیږي : د(زما) په ځای ددوی په لهجه کښې (اپما) ویل کیږي ، د(ستا) په ځای (اپتو) وائي دغه نسبتي ضمیر (دهغه) به ځای په کښې (اپغه) وائي او د دهغوی) په ځای (اپغو) ویل کیږي.

د بنګښ لهجه د پښتونستان په لویدیز کښې ویل کیږي. ددې لهجې دخصوصیاتو نه د(خلیل مومند و غوندی) دماضي فعل دغایب په صیغه کښې د«و»)د توري زیاتوالی دی مګر دخلیلو په لهجه کښې د«و» توري ضرور زیاتیږي او په دې لهجه کښې ضروري امر نه دی ، کله په کښې خفي «ه» هم د«و» په ځای راځي لکه د (ورسید) په ځای دوی (ورسیدو) یا (ورسیده) وای. په دې لهجه کښې «خ» د«س» غوندی ویل کیږي او «ځ» ور کښې د«ز» غوندی ده، داهم باید وویل شي چه دفعل حال دغایب صیغه یعني (کوی) په دې لهجه کښې (کی) غوندی تلفظ کیږي.

داهم امکان لري چه د الهجه د خلیل مومند ود لهجې یه جز وګڼل شي.

په لویدیز کښې نرګو لو ریاته خپره لهجه د ورانی لهجه ده ددی لهجې ستر حصوصیت په افغانو پوري د(است) لاحقه ده (تاسې ولاړ است ، تاسې وا یاست) په ماضي فعل کښې داسې ویل کیږي: (ورسیدی) ځواب ئي (ورکی) .

د(پر) ادات دلویدیزی لهجې له خصوصیاتو نه دی، وګورئ، چه ګل باچا الفت د (پر) دادات په باره کښې څه لیکي : که څه هم (پر) او (په) غیر مهمې کلمې ښکاري مګر دادبي شکل په بیلوالي کښې ددوی اهمیت ډېر لوی دی .

په دورانۍ لهجه کښې د (کړل) د مصدر نه لنډ شکل ډېر استعمالیږي مثلا (راکه!) بې «ړ» ویل کیږي، د (شول) مصدر د (سول) غوندې تلفظ کیږي (راسه!) وائي.

د دې لهجې د متنونو نمونې محمد گل نوري په دوه ټوکه مجموعې (ملي هنداره) کښې راوړي دي چه په کابل کښې د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوي ده، د دې دوه ټوکو ټول مندرجات قصې او افسانې دي مگر متاسفانه چه عربي توري د لهجو خصوصیت نه شي څرگندولی.

د خټکو لهجه یوه مهمه لهجه ده ځکه د خوشحال خان نه نیولی تر زمونږ د زمانې پورې دغه قوم ډېر اوښه لیکوال لري د (ورته) ضمیر په دغه لهجه کښې د (ویرته) غوندې ادا کیږي، په دې لهجه کښې هم «څ» په «س» او «ځ» په ساده «ز» بدلیږي مگر نه د تل د پاره، شخصي ضمیر (زه) د (زې) غوندې او (ته) د (تې) غوندې ویل کیږي، د خټکو لهجې سره بنوڅې لهجه ملګري کیږي، د کاکړو لهجه له بده مرغه تر اوسه پورې نه ده زده شوي، د دې لهجې د خصوصیاتو نه یو دا دي چه مجهول «و» په معروف «ی» سره بدلوي لکه (تورې ستر گي) چه دوی ئې په معروف «و» وائي.

وزیرستانۍ لهجه د علا یموله کبله یوه مهمه لهجه ده، دا لهجه په ختیز ګروپ کښې دا پر ېدیو د لهجې سره سرخوري، په دې لهجه کښې معروف «ی» په معروفه «ی» بدلیږي لکه (مسود) چه دوی یې (مسید) وای او مجهول «و» ور کښې په مجهوله «ې» اوړي لکه (مور) چه دوی یې (مېر) وائي.

تر اوسه پورې تقریبا د ځا ځیو، ځدرا ڼو او منګلو په لهجه کښې کوم معلومات نه ؤ. په ۱۹۶۱ کال کښې د کابل مجلې په (۵۰۱) ګڼې کښې

دلومړی ځل دپاره یوه مفصله مقاله (دخوست ملي لهجې) چاپ شوه ، ددې مقالې نه معلومیږی چه په دې لهجو کښې الف په «و» بدلیږی لکه (کتاب) چه دوی یې (کتوب) وائی او (لاړ) په (لوړ) تلفظ کوی ، برسیره په دې ددې لهجې خلک ، مجهول «و» په مجهوله «ې» بدلوی لکه (ګوره) چه دوی یې (ګېره) وائی او معروف «و» په معروفه «ی» بدلوی لکه (درومی) چه دوی یې (دریمی) اداکوی یا لکه (نوم) چه دوی یې (نیم) وائی . (نوربیا)

یادونه :

دباغلی استاذ اسلا نوف دغه مقاله یوه درنه علمی مقاله ده او په لهجو کښې یې زیات لټون کړی دی . که څه هم په ځینو مثالونو کښې ورسره مونږ اختلاف لرو او په کومه بله موقع کښې به یې ولیکو مثلاً دخوست په لهجه کښې په «و» باندې دالف او په «ی» باندې د «و» بدلونه دوزیرستان او اپریدو دلجو مهم امتیاز دی چه دخوست لهجه هم دهغو تابع ده او کوم ځانله اختصاص نه لری . (رشتین)

عبدالعزیز «عازم»

د زړه راز

ای له دردونه ډک زړه ګیه زما
ستا واویلا څوك اورېدلی نشی
اوښکی زما په مخروانې وی تل
دزړه له سوزه تمېدلی نشی
مینه په ما هغسی چارې کاندی
چه یې فرهاد هم هضمولی نشی
مورك زانګو کې چه دمینې سبق
له تامی واخیست هېرېدلی نشی
سر کی فکر و نه د لیلا لر مه
لیلا و طردی بل کېدلی نشی
«اجمل» می زړه ته رانژدې شوویل
«زما نه تا سو هېرولی نشی»
ماویل خواخوږ یه راته وایه هغه
ګرمه وینا چه سړ بدلی نشی

تنده لهجه کې دغه ځوانه وینا
وکړه چه هېڅ وخت زړېدلی نه شی
«غړوندی څټ ته اچوی شی منم
ولولې هېڅ ځنځیر تړلی نه شی
دلته یو څلی ورانېدو ما ویل
چه وران یې نکړې جوړېدلی نشی»
دغو خبرو دا الهام را کړلو
مهال چه تېر شو گرځېدلی نشی
تخم که نه پاشی په مځکه کې اوس
پسرلی تېر شو بیا کرلی نشی
طوفانی مینه دژوندون لرمه
دغه احساس مې سړېدلی نشی
تر څو به خواروی دهقانان په ژوندون
مزدوران اوښکی تویولی نشی
وخت دویښتوب دی افسوسونه خورمه
پښتانه لاهم ویښېدلی نشی
ماغوښت له زړه نه څو خبرې وکړم
خوله مې شوه بنده خلاصېدلی نشی
آرزو مې داچه دزړه رازولیکم
قلم مې مات شو خو ځېدلی نشی
خوانه مې غږ شو چه «عازمه» څه کړې
دلته له زړه نه څه لیکلی نشی

د زړه کوډۍ

(رازقی) نرنگی

ساقی ! کنډول دې تشول غواړم
ځان په نشو خمارول غواړم
داد خو دی خبرې پریږده نورې
دی رنگین کیف کی ورکول غواړم
ستا د کاسو خوې خوږې ګړ نګاته
د زړه مستۍ هم نڅول غواړم
درځار شم نن ستا دغوتر خواو بوته
ملګری ټول رالمسول غواړم
بل څه ته ستا دامنتونه . نه وړم
د ژوند کړاوا سا نول غواړم
ورته خاور ینه ډېوه و لګوه
چه دامحفل روښانول غواړم
د ژوند سندره په مزه ووایه
د ژوند هېلې پرې ګډول غواړم
په دې معصومه شان ګناه رازقی !
د زړه کوډۍ ودانول غواړم

د پښتو د ژبات پر مختګ د پاره

نوی پروګرامونه جوړیږی .

ښاغلی دکتور محمد یوسف صدر اعظم په هغه فرمان کښی چه د پوهنې او مطبوعاتو وزارتوته یې صادر کړی دی، د اساسی قانون د ۳۵ مادې د توصیې په اساس یې دغه وزارتونه موظف کړی دی چه د نور د ایرو او ذیعلاقه موسسو په ګډون او همکاری د پښتو ژبې د تقویې او پراختیا د پاره یو جامع پروګرام برابر او صدارت عظمی ته یې وړاندې کړی .

په دغه فرمان کښې ضمناً لارښود نه شوې ده چه د پښتو ټولنې آریانا دایرة المعارف او ادبیاتو د پوهنځی اساسنامې . تشکیلات او علمی پروګرام د علمی متود په اساس ترنوی نظر لاندې ونیول شی او هم په نوموړی فرمان کښې په پښتو ژبه له خارجی ژبو څخه د ګټورو اثارو د ترجمې په غرض د یوې دارالترجمې د تاسیس او خارج ته د ژبې بیژندلو ، د علمی اصولو د معرفت د پاره د پښتو ژبې د لیکوالو او عالمانو او په همدغې څانګه کښی د تحصیلاتو د پاره د محصلینو د لیږلو او په پښتو ژبه د هنری نندارو د پروګرامو د برابرولو د پاره توصیه شوې ده .

همدغه راز توصیه شوې ده چه د پښتو ژبې د پر اختیا له پاره په پښتو درسی کتابونو باندې که په ښودنځیو کښې وی که په کورسونو اویا نورو ځایو کښې نوی نظر وشی اود علمی اساساتو او تجربه شو و طریقو څخه کار واخیستل شی.

ښاغلی صدر اعظم په دغه باره کښې د عمومی مطالعاتو دپاره په خپله دپوهنې دوزیر تر اثر لاندې د یوه عالی کمیسیون دتشکیل تجویز کړی اود پوهنې وزیر یې مؤظف کړی دی چه د مطبوعاتو دوزارت په همکاری دپښتو ژبې دپوهانو او د ژب پیژندنې د متخصصینو د کمیسیون څخه غړی وټاکی او دهغوی منظوری دصدارت عظمی له مقام څخه حاصله کړی.

ښاغلی صدر اعظم لا رښودنه کړې ده چه د پښتو ژبې دانکشاف اوپراختیاد پلان اساسی ټکی په لسومیاشتو کښې ترتیب او صدارت عظمی ته وړاندې شی.

ښاغلی صدراعظم په فرمان کښې زیاته کړې ده چه حکومت دهغه پلان دتطبیق دپاره چه په دغه مقصد جوړ یږی له هیڅ راز مادی او معنوی حمایې څخه ځان نه ژغوری

پښتو ټولنه کښې

۱- څېړنيار عبدالله بختاني او څېړونکی محمد اکبر شينواری د پښتو ټولنې مسلکی غړی چه پروسږ کال در وسی ژ بې د ز ده کړې د پاره د شوروی اتحاد د دوستۍ د ټولنې په بلنه مسکو ته تللی وو؛ د مسکو په دولتی پوهنتون کښې د روسی ژبې د کورس د لوستلو نه وروسته بيرته هيواد ته راغلی دی

لکه چه معلومه ده دوی په دغه موده کښې د روسی ژبې ګرامر، فونيتيک، ادبيات د ژبې د تدريس متود، عمومی ژب پوهنه او نور موضوعات لوستی دی او د مسکو نه پرته لننګراد، د شوروی ملدا ويې، اوکرائن، ګرجستان او ارمنستان جمهوريتونو ته د علمی سير په توګه تللی او د شوروی اتحاد علمی، فرهنګی، کلتوری، صنعتی وزراعتی موسسې يې کتلی دی.

۲- څېړنيار حبيب الله تېری د پښتو ټولنې مسلکی غړی چه دوه کاله د مخه د ژب پوهنې د زده کړې له پاره امريکا ته تللی ؤ د ماستری د اخستلو نه وروسته په دې وختو کښې بيرته هيواد ته راغلی دی

۳- ښاغلی محمد صديق روهی د کابل مجلې مدير د لوړو تحصيلاتو د پاره د مير ان په مياشت کښې بيروت ته لاړ.

دغه پیغام دمولانا جامی دزیږیدنې په (۵۵۰) کالیزه کښې چه په کابل کښې د عقرب په (۳۰) جوړ شوی ؤ د پوهاند ر ښتین له خواد پښتو ټولنې د پیغام په نامه ولوستل شو .

نن چه دافغانستان په پایتخت کابل اوهرات کښې دمولانا نورالدین جامی دنمانځنې اودرناوی لویه کالیزه جوړ یږی دا ورځ یقیناً چه یوه مبارکه اوله انوار و څخه ډکه ورځ ده .

نن دعلم اوادب معنوی باغ وبن ډېر سمسور اوښیرازه دی . نن ورځ دتصوف اوروحانیت په ځلاندو پلو شوروښانه اوځلانده ده ددې ورځې په ذراتو کښې دنور اوبرکت بخری له ورایه ځلیږی . له دې ماحول او چاپیریال څخه بونوی پرتم اوجلال پورته کیږی . دروحانیت او تصوف د سپیڅلو پټنګا نورو حونه په ډیراحترام او درناوی ددې دروند محفل دلید ود پاره په ادب ولاړ دی او ټول غواړی چه په دې نمانځنه اوستاینه کښې ګډون وکړی دعبدالقادرختک - حمید مومند - اوعلیخان روحونه هم دې تاریخی ټولنې ته د بلبلو په خوږ ونغمو کښې ددرناوی پیغامونه استوی .

په دې لړ کښې دپښتو ټولنې علمی اوادبی انجمن هم دخپلې عقیدې اواخلاص غږ نچې په ډیره مینه اوویاړ دې دروند محفل ته وړاندی کوی اودهیواد ددغه لوی پوهاند ستر صوفی اولوی نحوی پاک روح ته دخپلو سپیڅلو ارزوګانو سره زیات درودونه اودعاګانی ورلیږی .

پښتو ټولنه دهیواد ددغسی نومیالی پوهانو درناوی، نمانځنه او یادونه خپله مسلکی اوایمانی وظیفه ګڼی اودغسی کالیزې دروحانیت اومعنویت دلوړ تیا دپاره ضرور بولی .

پته

غازی واټ ، شمالی برخه ، نوی ښار
کابل- افغانستان
دپښتو ټولنې درئیس
تېلفون لمبر ۲۰۳۵۰
کابل مجلې دتېلفون لمبر ۲۱۷۱۶

داشتراک بیه

(په افغانۍ)

په کابل کښې ۴۰
د هېواد په نورو برخو کښې ۴۶
زده کوونکو ته نیمه بیه :
۱- کابل ۴۰
۲- اطراف ۲۳
د باندې ملکو کښې ۵ امریکایی ډالره
دیوې ګڼې بیه ۴
د شپږو میاشتو اشتراک هم منل کېږي
د پښتو ټولنې د جاری حساب لمبر په افغانستان بانک
او اطرافي نمایندګیو کښې یې : ۷۱۸۷
داشتراک بیه په اداره کښې هم اخیستل کېږي

(۵۴۱)

پرله پسې ګڼه

(۸)

دولتی مطبعه

KABUL

Monthly Journal Of The
Pashto Academy

Sociology Art and related Fields.
Publishes articles in Pashto on Literature, Philosophy, Philology

2 - JUN 28
Copy 1965

President of the Academy Pohand
Reshteen

Editor: M. Moman Patwal
Address Pashto Academy
Kabul Afghanistan